دا ناول لومړی کې ما د کتاب له مخې برخې لیکل او نشر کول نو دا کار ډېر سخت و ځکه زه له یو خوا وینه څښونکې ناول دویم پړاو ټلګرام کې ژباړم او نشر کوم له بلخوا وټساپ کې چاکلیټ ناول ژباړم او نشر کوم او د هغه څخه لابتر دا چې لګیا یم عفریت ناول لیکم، نو دومره کارونه په یو وخت نه کېږي، نو د لږ فکر کولو وروسته ځان سره مې وویل چې دوه ورځې به هغه ناولونه پرېږدم او دا ناول به مکمل Pdf فایل ترې جوړ کړم، د هغه وروسته به خپل نور کارونو ته ورسېږم.

نو دا هم د ورک شوی ناول پوره فایل په دې امید چې ناول مو د خوښې وړ ګرځېدلې وي، د ټلګرام او وټساپ ملګري خو ما پیژني خو هغه ملګري چې دا فایل د کتابتون سایټ څخه اپلوډ کوي او لولئ نو د هغوي څخه مې دا هیله ده چې زما شخصي د ټلګرام چینل ته راشې او زما د لیکنو څخه حمایت وکړي، زه خواجه زی لیکوال یم، ما څه کم دوه نیم کلونو کې د ۲۳ څخه ډېر ناولونه لیکلې او ژباړلې دی خو ځکه چې تبلیغات مې نزده ډېرې ملګري زما لیکنې د نور چینلونو څخه وایې او زما چینل ته نه راځې، دا کار مو بیحد زما روحیه کمزوری کوی او زما د کار کولو مخه نیسې، ځکه زحمت زه باسم او نتیجه یې نور خلکو ته رسیږي، دا ناول د دوه ورځو د بیحد زحمت ویستلو وروسته نن منظم شو. داسې حال کې چې یو لیکل شوی ناول وو.

نو خپله لږ سوچ وکړې یو لیکل شوی ناول دومره وخت نیسې، نو هغه ناول چې زه لیکم هغه کې زه د میاشتو او کلونو زحمت باسم نو انصاف دا دې چې د زحمت ویستونکي څخه حمایت وشې، تر څو لا تشویق شې لیکلو، ژباړلو او داسې نور نشراتو ته. او هو زه غوارم خپل عفریت ناول چاپ کړم خو مالي توان دومره نه لرم او خپروندي ټولني هم د چاپ ډګر کې مرسته او همکاری نه کوی. نو که کوم کس مالي مرسته کولای شې خوشحالېږم زما شخصي ایډي ته په ټلګرام کې مسج وکړی.

shuhab09@

که تاسو خپل د لیکوالانو او ژباړونکو سره نن مرسته ونکړې، سبا ورځ د دې ګیلې حق نه لرې چې ووایست پښتو ژبې ته خدمت نه دې شوی، زه دلته یم تر څو خپل ژبې او خپل خلکو ته خدمت وکړم، خو دا خدمت هغه وخت کې کولای شم چې دا خلک هم زما شاته وی، له یوه لاسه ټک نه خیژی، نو ستاسو ټولو ملګروو د ملاتړ په امید.



♥

د چنګاښ میاشت وه، د سهار مهال وو، د لمر زیني وړانګې ګېرچاپېره پر غرونو تازه راخورې شوې او نړۍ ته یې زېړبخونه ښکلا وربخښلې وه، د ګړۍ ټک ټک اوازونو راته دا ناري وهلې چې پاڅه د دندې وخت دې رانږدې شوی دی.

ماهم نور ځنډ ونه کړ، خپله دریشي مې واغوسته او د ماموریت په لوري روان شوم.

ماموریت ته چې ورسېدم، په ماموریت کې چې د شپې نوکریوالۍ او ګزمه د چا په برخه رسېدلې وه نو د شپې د ګزمې پر مهال یې دوه کسان نیولي وو.

په خپل رسمي کار لا بوخت نه وم چې جنابې پولیسو راته دوه تورن کسان رامخې ته کړل، ما هم نور څه ونه ویل د ورځې لمړی پیل مې له همدوی څخه وکړ، پوښتنه مې ترې وکړه: "دوی دواړه دې په څه ګناه نیولي دي؟"

جنابې پولیس ځواب ورا کړ، صیب دوی ما د شپې په لوڅکی کولو نیولي دي، څرګندېږي چې د کور نه پټ راتښتېدلي، دوی دواړه د شپې یوې نامعلومې لورې ته ډېر ګړندي روان وو چې زموږ پولیسو نیول، دواړه ځوانان زما د مېز تر شا ولاړ وو،

پوښتنه مې ترې وکړه، ستاسو نومونه څه دي؟او د کوم ځای اوسېدونکي یئ؟

اول یو ځوان لږ زما خواته رانږدې شو، ويې ويل: زما نوم (طيفي) دی او دا بل زما ملګری دی چې (جيلا) نومېږي او موږ دواړه د (تاليا) اوسېدونکي يو.

زما د خبرو د پیل کېدو وړاندې جنايي پوليس ورته وويل: ګوره، صيح او سم نومونه واخلئ، دا څه (جيلا پيلا) مو پيل کړي دي،ځوانانو وويل:

مامور صيب! زما نو (لطيف) دی دويم وويل: زما نوم (جليل) دی صيب! موږ د کور نه تښتېدلو، موږ بېګا ماښام د سيند پر غاړه د يو مړي جسد ليدلی و، موږ د همغې خبر لپاره د ماموريت په لوري ګړندي راروان وو چې ستاسو د کسانو له اړخه ونيول شو.

ما ورته په حيرانۍ وويل: د مړي جسد مو ليدلی وو؟ تاسو دا خبره جنايي پوليسو ته د شپې ولې نه کوله؟

لطيف په ډاډه زړه وويل:

ښاغلي مامور صيب! موږ خو بېګا د شپې هم دا خبره ستاسو پوليسو ته کړې وه، خو پوليسو زموږ پسې ټوکې ملنډې پيل کړې او زموږ خبرو ته يې هيڅ غوږ نه ایښوده او ويل يې چې دوي دواړه هسې لېونيان دي.

جنایي پولیس د دوي په خبرو کې راودانګل او ماته یې مخ کړ. صیب! دوي دواړه دروغ وايي. زموږ څارندویه ډلې (پولیسو) د شپې دوي د یو دوکان په قلف ماتولو لیدلي وو او بیا یې نیولي دي، ځوانانو په حیرانۍ سره وویل:

مامور صیب موږ بې ګناه یو. موږ په هماغه وخت په خپله د ماموریت خواته ګړندي راروان وو، ته خیر دی زموږ سره په خپله لاړ شه. که هلته د سیند پر غاړه د مړي جسد نه وو پروت. بیا چې موږ ته هر ډول سزا راکوې. موږ ورته غاړه ږدو، بیا سزا او وهل ټکول زموږ حق دی. موږ لا تراوسه دا خبره د کلي هیچا ته نه ده کړې او سیده هم دلته راتلو چې ستاسو پولیسو له خوا ونیول شو، ماته جیلا (جلیل) په لاره ویلي وو چې موږ دا خبره ماموریت ته ورسوو موږ ته جائزه (انعام) راکړي او موږ دلته اوس د سزا او وهلو سره مخ شو. ما د دواړو نه وپوښتل د مړي جسد (تنه) ستاسو نه پرته بل چا نه دی لیدلی؟ او بل دا چې بل چا ولې نه دی لیدلی؟ ځواب یې راکړ. صیب! نوموړی ځای د سیند د غاړې سره یو پټ ځای دی او بل دا چې جسد د شګو لاندې پټ وو. یعنې له پاسه پرې ریګ (شګه) اچول شوې وه. زموږ په نظر به ځکه بل چا نه وي لیدلی. او بیا یې خپل ملګري طیفي (لطیف) ته وکتل او ویې ویل: موږ ورباندې دپاسه نوره شګه هم

واچوله، تاسو پخپله زموږ سره لاړ شئ که جائزه مو رانکړه، نو
سزا خو زموږ په برخه ده.

ما جنابې پولیس ته د مشورې په توګه ویل: زما په فکر دا هلکان
ماته دروغجن نه ښکاري، جنابې پولیس ځواب راکړ، ښاغلیه!
چې ستا خوښه وي لاړ به شو او که ستا امر وي، نو د تګ لپاره به
څه وسیله راپیدا کړو، ما د هلکانو څخه وپوښتل، د پیښې ځای
د دې ځایه څومره لیرې دی؟

هلکانو ځواب راکړ، ښاغلیه! که د پُل پر لاره لاړ شئ، نو درې
میله به لیرې وي، او که په خامه او ژوره لاړ شئ، نو زموږ په باور
چې دوه نیم میله واټن به وي، موږ هلته د کبانو د نیولو لپاره
تللي وو چې جسد (تنه) مو ولیده، ډېر سخت وویرېدلو، له ویرې
څخه زموږ ټول سامان هم هماغلته پاتې شو او په منډه، منډه مو
ځانونه د سیند پاس لورې ته راورسول چې د پولیسو له خوا
ونیول شو.

ما د یو پولیس په مرسته د دوو بګیو (ګاډیو) تیاری وکړ او څو
پولیس مو له ځان سره کړل او د هلکانو په لارښوونه په همدې
مهال روان شو.

هلکانو موږ ته مخکې په ډاګه کړې وه چې د پُل نه ورانډې د
بګیو (ګاډیو) تلل ستونز من کار دي، هلته خامه لاره او پټې هم

دي، نو د دې له آمله موږ دوه سایکلونه هم په بګی (ګاډی) کې له ځان سره یوړل، غالباً دا د هغه زماني خبره ده چې ترانسپورټي اسانتیاوې نه وې، په میلونو میلونو مزلونه به هر پولیس او مامور د پلټنې لپاره پلی ته، تقریباً په شلو دقیقو کې موږ پُل ته ورسېدو، په ریښتیا هم چې د پُل نه مخکې لاره خرابه وه، ځای ځای شنه پټي او لوړې ژورې تر سترګو کېدلې، ځینو ځایونو کې اغزن جاړونه هم تر سترګو کېدل، په هر حال د پُل تر څنګ مو بګیو ته رخصت ورکړ او پیاده روان شو، هلکانو موږ ته لاره ښوده او موږ ورپسې شاته روان وو، ګرمي هم زور لګولی وو، موږ ورو ورو سیند ته په نږدې کېدو وو، سیند هم ډېر په شور و، په زور یې خپلې تېزې څپې پورته کولې، د سیند د غاړې نه لس قدمه وړاندې د شګو یو انبار تر سترګو کېده، دواړه هلکان چې د شګو انبار ته ورسېدل، نو ودرېدل او موږ ته یې وویل صیب، د مړي جسد د همدې شګو لاندې دی.

ما هم پولیسو ته سم لاسي امر وکړو چې د شګو په لیرې کولو پیل وکړئ، پولیسو زما په امر کار پیل کړ.

ما دې وخت کې د لطیف نه وپوښتل، آیا تاسو په ریښتیا هم جسد په خپلو سترګو لیدلی وو؟

لطیف ځواب راکړ، موږ جسد ټول پوره نه وو لیدلی، موږ چې

لږه شګه رالرې کړه، نو د جسد څه برخه ښکاره شوه، موږ وډار شو او زر مو ورباندې بېرته نوره شګه واچوله، د هلکانو خبره مې چې واورېده، نو ماته په خپل تلوار او بېړې باندې افسوس راغلو، دافکر مې د خان سره وکړ چې کېداى شي د شګو لاندې د کوم حیوان یا څناور جسد وي، مګر د څو دقیقو څخه وروسته یو پولیس په ډېره حیرانه لهجه وویل:

مامور صیب، مامور صیب، دلته خو څه شی ضرور شته او بیا یې په تلوار سره د شګو لیرې کول پیل کړل، له لرې شیبې وروسته یو بربنډ بدن راڅرګند شو، خو په ورو، ورو یې له شګو څخه ټول جسد رابهر کړ.

ډېره خطرناکه پېښه وه، قاتل یې چې هر څوک و، خو په ډېرې بې رحمۍ سره یې وژلی و، بدقسمتي دا وه چې جسد پوره نه و، د جسد سر، دواړه خپې او دواړه لاسونه ورک وو، یوازې تنه یې پاتې وه، لاسونه یې په بندونو کې غوڅ شوي وو او پښې یې تر زنګنو لاندې نه وې، خو د بدن نه یې دا څرګندېدله چې نوموړی مقتول ښه صحت مند او مضبوط ځوان وو.

ما دې مهال کې دواړو هلکانو ته امر وکړو، تاسو دواړه خپل کلي ته لاړ شئ، د کلي کوم مشر درسره خبر کړئ او دا هم ورته ووایئ چې څلور پینځه کسان نور هم له ځانه سره راولي او له

ځانه سره دي يوه بېلچه، کولنګ او دوه څادرونه هم راوړي. هلکان سم له واره روان شول، د هغوی کلی له سیند نه د یوه میل په اندازه لیرې پروت و. ما هم د پلټنې کار په مخ ورلو، په دې وخت کې جنابي پولیس راته وویل:

مامور صیب! د سر نه پرته د جسد پېژندنه ډېر ستونزمن کار دی. ما ورته وویل: هو دا خو ده، رښتیا هم چې د انسان پېژندنه له سر څخه کېږي.

هر انسان د بل انسان بدن ته نه ګوري، بلکه له سر څخه د یو بل پېژنې او بل دا چې د انسان بدن پر جامو پټ وي، که موږ چېرته د انسان بدن هم وګورو، مګر د چا په یاد کې نه راځي چې دا د چا بدن دی، له مخ او سر څخه وروسته دویم پېژندنه له لاسونو څخه هم کېدای شي، موږ چې کله چا ته د سترې مشی (روغبړ) پر مهال لاسونه ورکوو، اکثره لاسونه معلومولای شو، نږدې د کور غړي، خپلوان او دوستان اکثره هم خپل نږدې مړی یا مقتول د لاسونو څخه هم پېژندلی شي، مګر زما په فکر او سوچ چې د نوموړي مقتول (وژل شوي) قاتل ډېر هوښیار او عقلمند سړی و، هغه د سر او لاسونو څخه پرته پښې هم ترې غوڅې کړې دي، یعنې د مقتول پر بدن یې داسې ځای نه دی پرېښی چې څوک یې وپېژني، تردي چې د متقول (وژل شوي) لباس (جامې) یې هم

چېرته ورکې کړې دي.

موږ په همدې خبرو بوخت وو، لږ وروسته د کلي مشر چې نوم یې نورجمال و، سره له شپږو نورو کسانو د پښتني خای ته راغلل او غوښتل شوی سامان یې هم له ځانونو سره راوړل، یو کټ هم ورسره و.

له سلام نه وروسته مې راغلو کسانو ته امر وکړ چې تاسو هغه ځایونه چې شکمن او معلوم وي راوسپړئ ګوندې د مقتول لباس، لاسونه، پښې، سر او نور غړي یې راپیدا شي او بیا مې د ملک نورجمال څخه وپوښتل:

ملک صیب! ستاسو د کلي څخه خو کوم سړی او ورک شوی نه دی؟

ملک، نورجمال ځواب راکړ، نه مامور صیب، زموږ د کلي نه خو کوم سړی ورک شوی نه دی، دا ماته د ښار یا بلې سیمې سړی ښکاري، د ښار خلک کله، کله دې ځای ته د او چکر لپاره راځي، او بیا یې د سیند نه پورې غاړې یوې ودانۍ ته اشاره وکړه چې پُل سره یې نږدې موقعیت درلود، مامور صیب! هغه مخامخ ودانۍ چې وینې، دا یوه دولتي ودانۍ ده، له لیرې پرتو سیمو خلک هلته د شپې پاتې کېږي، په ځانګړي توګه کله چې دلته د چکر لپاره راځي، د دې دولتي ودانۍ مالک دوه بېړۍ

هم لري چې سیلانیان پکې د سیند له یوې غاړې نه بلې ته چکر وهي، شاید همالته څوکیدار (boat man) هم موجود وي. د هغې نه به د دې پېښې په هکله وپوښتی چې څه وایي
نوموړې ودانۍ د سیند نه نیم کیلو متر لیرې جوړه شوې وه، په هماغه ځای کې په غالب ګومان کښې ونې هم تر سترګو کېدې. ګمان کوم چې ونې د سیلانیانو لپاره ابښودل شوې وې. د ودانۍ نه لاندې د خاورو یو څو کورونه هم تر سترګو کېدل، کوم کسان چې ما د کولنګ او ببلچې وهلو په کار ګومارلي وو، هغوی هم د پوره زیار (محنت) څخه وروسته ستړي شوي وو، خو متاسفانه چې هلته نه د مقتول (وژل شوي) د جامو څه درک وو او نه یې د بدن کوم غړی پېدا شو، په دې مهال کې ډېر خلک نور هم راټول شوي وو، مګر د مقتول (وژل شوي) هېڅ کوم پېژندګلوي ونه کړه.
ما هم کارکوونکیو ته نور څه ونه ویل، په دې وخت کې ماته یو بل فکر راپیدا شو، چې هوښیار او زیرک قاتل ته څه په کار وو چې جامې او د مقتول اندامونه یې دلته ښخ کړي وو، دا ټول څیزونه سر، لاس او پښې به یې خامخا په اوبو کې لاهو کړي وي. څرنګه چې د دوبي ګرمې او تودې ورځې وې، سیند هم ډېر ګړندی و، ډېرې زورورې څپې یې پورته کولې، خدای خبر د بدن غړي او

لباس به یې کوم ځای ته وړي وو.

د شکو د ډېرې نه يو څو قدمه وړاندې ماته څه ايره هم تر سترګو شوه، ما په حيرانۍ سره جنابي پوليس ته وويل: کېدای شي قاتل د وژل شوي لباس (جامې) همدلته سوزولي وي او بيا يې ايره په اوبو کې اچولي وي.

د پلټنې له پوره زيار څخه وروسته ما سر پرېکړې جسد د پوليسو او څو کليوالو په مرسته روغتون ته ولېږه، د جسد له وړلو وروسته ملک نورجمال او ورسره نور کسان بېرته خپل کلي ته ستانه شول.

زه او جنابي پوليس د هغې دولتي ودانۍ په لور روان شوو، د او پلټنې له امله دا هم اړينه وه چې ورو، ورو خپل تګ غوره کړو، په ځای ځای کې مو خپله څېړنه هم روانه ساتله چې پُل ته ورسېدو، د پُل نه څو قدمه وړاندې د پوليسو يوه وړه پوسته هم تر سترګو کېدله چې د پُل د حفاظت او ساتنې لپاره جوړه شوې وه.

د ودانۍ سره خواوشا ونو نوموړې ودانۍ ته يوه ځانګړې ښکلا وربخښلې وه، په ځانګړې توګه د ارام او سکون لپاره يو ښايسته او په زړه پورې ځای وو، د ونو په منځ کې ودانۍ ته لاره غزېدلې وه، موږه هم په همدې لاره روان وو چې ودانۍ ته ورسېدو، د

رسېدو سره سم یو سړي مور دواړو ته تود هرکلی وکړ چې وروسته یې په خپله ځان ځوکیدار داوپیژندو ، د سلام نه وروسته یې مور ته د ودانۍ دروازه بېرته کړه او په منډه لاړو یخې اوبه یې راوړې، ځرنګه چې ما وړاندې یادونه کړې وه، د دوبي موسم وو ګرمۍ سخت زور لګولی وو، په ربښتیا چې ډېر تږي شوي هم وو، اوبه مو وڅښلې او خپله تنده مو پرې ماته کړه، نوموړی ځوکیدار یو زوړ سپین ږیری سړی و.

د رسمي خبرو ځخه وروسته مې ترې د نوم پوښتنه وکړه، خپل نوم یې راته نیازولې وښودو، سپین ږیری هم د نوموړې پېښې په هکله خبر شوی و، په ډېر ادب سره یې له دننه کوټې ځخه درې ځوکۍ راوښکلې او مور ته یې د کېناستلو لپاره په ادب سره وویل، ښاغلیو! که ستاسو امر وي، د خوړلو لپاره به ځه درته برابر کړم، ما ورته وویل: نیازولې کاکا ډېره مننه او کور ودان، موږه ډوډۍ خپل ځای ته رسوو، مور یوازې یو ځو پوښتنو ته راغلي یو، زما د خبرې سره سم هغه په ځمکه لاندې کېناست او په ډېره عاجزۍ یې وویل:

ښاغیله! امر وکړئ! د ځه شي په اړه پوښتنې لرئ، د خبرو نه یې دا ځرګند بدله چې نوموړی سپین ږیری ښه ګرځېدلی او زیرک سړی و، د خپلې موضوع په اړه مې ترې وپوښتل: نیازولې کاکا

د درې ځلورو ورځو په لړ کې به ستا په فکر دلته څومره سیلانیان د شپې تېرولو لپاره راغلي وي؟

په دې خبره لږ څه شکي شو، زما په فکر چې زموږ دربښي د هغه لپاره کومه نوي خبره نه وه، ځکه چې نوموړې ودانۍ ته به په سلګونو زموږ په شان چارواکې، مامورین او داسې نور ښاریان او عام خلک ورتلل، که د چا به خوښه وه شپه به یې تېره کړه او سهار به لاړل، ځنې کسان به یوازې دلیدو لپاره راغلل او مازیګر به بېرته شتا شول.

زما په غالب ګمان زړه کې به یې دا تېره شوې وي چې دوی خاص د نوموړي مقتول د پلټنې لپاره راغلي.

په هر حال په ډاډه زړه یې ځواب راکړ، ښاغیله! زه خو تېره شپه د لور د کور نه راغلی یم، هغه ناروغه وه زه یې د پوښتنې لپاره کلني ته ورغلی وم، لس ورځې مې هماغلته تېرې کړې، اوس د الله(ج) په فضل روغه شوې، ما ترې بیا وپوښتل: ستا په نه شتون کې د ودانۍ څار او ساتنه د چا پر غاړه وه؟

ځواب یې راکړ، ښاغلیه! د ودانۍ د څار او ساتنې لپاره مې فتح دین ته ویلي وو چې زما تر راتګه به د ودانۍ ساتنه او څارنه ستا پر غاړه وي چې د ودانۍ تر شا په یو کور کې اوسېږي.

ما ورته په بېړه وویل: کاکا جانه! که ستونزه درته نه وي، نو دلته

یې ژر راوغواړه، سپین ږیري نیازولي زما د خبرې او امر سره سم پاڅېدو او په ډېره منډه د فتح دین د رابللو لپاره د هغه کور ته ورغلو.

لږه شېبه وروسته فتح دین د نیازولي سره یو ځای ودانۍ ته راننواته، فتح دین له خبرې نه ډېر ساده او بې سواده انسان ښکارېده، یو زوړ قمیص یې پر تن و او له پاسه یې یو واسکټ هم اغوستی و، د قد اندازه یې غالباً شپږ فټه وه او د عمر له پلوه به د پرش پینځه دېرش کلن و، شاید د ملا او د اوږې هډوکي یې د باندې راوتلي وو او ملا یې لږ څه کږه شوې وه، سر یې هم ښکته نیولی و، ما چې څنګه ولید په زړه کې مې راتېره شوه، ګمان نه کوم چې د ده څخه کومه د ګټې خبره واورم، د فتح دین چې څنګه زموږ پر لور نظر شو، نو له ورایه یې په مخ کې بدلون راغلو او په لړزېدلو قدمونو زموږ خواته رانږدې شو.

د هغه د خبرو نه وړاندې یې نیازولي پېژند ګلوي له موږ سره وکړه، فتح دین یو کب نیوونکی دی او د دې سره، سره د بېړیو ساتونکی هم دی، د نیازولي له خبرو نه یې وروسته موږ دواړو ته سلام وکړ او لاندې پر ځمکه د نیازولي تر خوا کېناست، ما ترې وپوښتل: فتح دینه! په تېرو درې څلورو ورځو کې، خو ودانۍ ته د شپې تېرولو لپاره میلمانه نه وو راغلي؟

په وېره یې خپل سر لږ رانېغ کړ او په ساده لهجه یې ووېل:
ښاغیله څو ورځې وړاندې؟
ما ورته په خندا ووېل: د ورځو شمېر پرېږده، دا راته وښایه چې د نیازولي له تلو نه وروسته دلته څومره مېلمانه او سیلانیان د شپې لپاره راغلي وو؟
په ساده لهجه یې ځواب راکړ، وه ښاغیله الله دې ستا سره ښه وکړي، دوه مېلمانه مخکې راغلي وو او بیا د هغوی پسې یو مېلمه وروسته راغلو، له وړاند ښنیو سړیو سره یوه ښځه هم وه، سړي غټ مامورین وو، وروسته چې کوم مېلمه راغلی و هغه هم غټ مامور و، مور یې ډېر قدر وکړ چې خفه نه شي، ما هم د هغه نوري خبرې زیاتول نه غوښتل تري ومې پوښتل:
د هغوي شکل او څېرې څنګه وې؟
په ډېرې ساده ګۍ یې ځواب راکړ، څېرې یې ډېرې ښه وې، پاکې صفا جامې یې اغوستې وې د کړنوخوښه خلک معلومېدل ماته د ښې غټې کورنۍ خلک معلومېدل او ښځه چې ورسره وه، نو هغه په څادرې کې پټه راغلې وه، ما ورته بیا ووېل:
ما درته د شکل او څېرې په اړه ووېل، دا خو څېره نه شوه؟
ته بل خوا لاړې لږ فکر وکړه او بیا یې مور ته وښایه چې د نوموړو کسانو عمرونه څومره وه؟ جامې یې کوم رنګ پر تن وې؟ قد او

قامت يې څومره وو؟ او د هغوی سره څه. څه سامان او وسيلې وي؟

په ساده انداز له ځمکې نه راپاڅېد او ويې ويل:

ښاغليه! زه به مې د خپلې مېرمنې څخه وپوښتم هغه په دې کارونو ښه پوهېږي، ما ورته وويل:

فتح دينه! ته ترې خپله مه پوښته، مېرمن ته دې ووايه چې په خپله راشي مونږ به ترې نه په خپله وپوښتو.

په زړه کې مې راوګرځېده چې زما خبره رښتيا شوه چې د فتح دين نه به کومه د کتې خبره واورم، په دې وخت کې ساده فتح دين د پوښتونکې په نظر نيازولي ته وکتل او بيا يې ورته په ساده وينا وويل: څنګه وکړم نيازولي په خپله مېرمن نظيره ورته راوغواړم؟

نيازولي ورته وويل: زما نه څه پوښتنه کوې تاته چې مامور صيب څه وويل تا وانه اورېدل؟

د نيازولي په دې خبره يې زر خپلې خپلۍ پر پښو کړې او مخ پر شا د خپلې مېرمنې د رابللو لپاره له ودانۍ څخه ووت.

جنابې پوليس هم د ودانۍ څلورو اړخونو ته نظر واچولو او بيا يې ماته وويل: ښايسته ودانۍ ده، د تفريح او آرام لپاره ښه ځای دی، ما ورته وويل: زما په اند د نوموړي قتل لړۍ له همدې

ودانۍ څخه پیل شوې ده، جنابې پولیس هم سر ښکته کړ، په دې وخت فتح دین شاته او مخکې ترېنه ښځه د ودانۍ په دروازې راننوتل.

نظیره بي بي د شکل او څېرې څخه وچه کلکه او نرۍ شان ښځه وه، ازادې او ارتې جامې یې پر تن وې، له ورایه یې په تندي کې د غصې نخښې څرګندېدې، د یو دوو میاشتو ماشوم یې هم په غېږ کې و، نه پوهېږم چې تندی یې ولې تریو و، ساده فتح دین به زموږ په هکله څه ورته ویلي وي، په حیرانۍ سره یې وویل: تاسو څوک یئ؟ زه مو د څه لپاره راغوښتې یم؟

په دې وخت کې نیازولي ورته وویل: نظیرې لږه په ارامه کېنه، دومره غصې ته اړتیا څه ده، هلته د سیند پر غاړه یو سړی چا وژلی د هغه په هکله درنه مامور صیب یو څو پوښتنې کوي، په دې خبره یې اوږده پوزه نوره هم راکږه کړه، په ترخه لهجه یې وویل: ماته یې څه، څه ما خو نه دی وژلی؟ او نه ترې خبره یم، د سیند مړی موږ سره څه تړاو لري؟

فتح دین ورته په نه وېرېدونکي او نا زړه غصه وویل: نظیرې لږه غلې شه او دلته کېنه!، نظیر بي بي لاس وخوځولو او په غصه یې وویل:

مامور صیب! موږ نه یو خبر، زموږ د مړي سره څه تړاو دی؟ دا

سمه ده چې د سیند پر غاړې جسد پروت دی، خو موږ ترې نه یو خبر او نه موږ ته دا معلومه ده چې چا وژلی دی؟
فتح دین چې څومره ساده او شریف انسان وو هومره یې مېرمن تېزه او بد ژبې وه، هغه متل دی "په پوزه به یې مچ نه پرېښودو"
په هر حال د فتح دین او د هغه د مېرمن د څېړنې څخه چې موږ ته کومې خبرې لاس ته راغلې نو تاسو ته یې په خپلو الفاظو وړاندې کوم.
د نیازولې د تللو نه وروسته ودانۍ ته یوه ښځه او سړی راغلل، ښځې توره څادرې په سر کړې وه او ښه یې ځان پرده کړی وو، د ښځې سره یو غټ لاسي چرمي بکس وو، د انجلۍ نوم ګلالۍ وو او د سړي نوم علي حسن وو، علي حسن فتح دین ته دا رنګه ویلي وو چې موږ دواړه دلته د سیل او چکر لپاره راغلي یو او دوه درې ورځې به تاسره په ودانۍ کې اوسېږو.
فتح دین دا خبره په ډاګه کړې وه چې نوموړي سړي ماته یو څو روپۍ هم راکړې ما هم ورته په ودانۍ کې د شپې تېرولو اجازه ورکړه. فتح دین دا ګومان کولو چې نوموړی علي حسن کوم دولتي مامور دی، د نظیر بي بي په وینا چې هغې څو ځله دا کوښښ کړی وو چې د انجلۍ سره وګوري، خو د سړي له لوري به اجازه نه ورکول کېده چې ګلالۍ د چا سره وګوري، کله به یې

ویل چې هغه اوده ده کله به یې ویل چې ناروغه ده او طبیعت یې خراب دی.
نظیر بي بي چې دا کار ولیدو نو، شک ورته پیدا شو، هغې خپل خاوند فتح دین ته په دا ډول وویل:
تا دا کوم ډول خلکو ته ځای ورکړی، ته خبر یې چې د کوم مقصد لپاره دلته راغلي؟
ماته خو ضرور څه ګړبړ ښکاري، دوي دواړه بې څه نه ښکاري کیدای شي چې دا ښځه یې راتښتولې وي ماته خو د ده خپله مېرمن نه ښکاري چې په هر څه ډول وي دوي زر د ودانۍ نه اوباسه، دې کې زموږ نوم هم بد یږي.
فتح دین ورته په ساده ژبه ویلي وو: نظیرې ته ولې دومره په غصه یې، دوي ګوره د غټې کورنۍ خلک دي، په دې خبرو پسې مه ګرځه چې ته د دوي په ضد لګیا یې، په دې وخت کې نظیر بي بي په غصه خپل خاوند ته وکتل، ته لکه زما په خبرو پوه نه شوې؟
فتح دین وویل: زه په ټولو خبرو پوه شوم، خو نظیرې اخر زموږ څه کمېږي، د دوو ورځو میلمانه دي بیا به په خپله مخه ځي،
څلور پینځه روپۍ چې درته په لاس درشي دا هم ډېره ده.
نظیر بي بي ماته بیان کې دا خبره کړې وه چې پینځه شپږ ورځې



@shumbog

وروسته نومورې ښځه (ګلالۍ) زمونږ کورته په خپله راغله، د ماسخوتن توره تياره وه مونږ لالټين لګولي وو او ډوډۍ مو خوړله. د دروازې له ټک ټک نه پرته سيده کوټې ته راننوتله، په دې مهال کې يې د سر نه ښادرې ليرې کړې وه او خپل بکس (دست قول) يې په غاړه کې و.

ښايسته او ښکلې ښځه وه، تر ډېره يې زما سره خبرې کولې، په خبرو کې يې دا هم راته وويل: نظير بي بي ته ډالۍ نه شې، ته څو ځله ودانۍ ته زما ليدو ته راغلې وې، خو متاسفانه چې زه به يا ناروغه وم او يا به مې طبيعت خراب و، ما غوښتل چې نن شپه تا سره وګورم، ضبا به که خير وي مونږ له دې ځايه څو. ما ورته د ډوډۍ ست وکړ، ښځې په نه ځواب راکړو او ويل يې چې ډوډۍ مې اوس زړه ته نه کېږي، بيا يې ماته وويل: نظير بي بي! زه ستا نه ډېر ښښنه غواړم مونږ ډېرې ورځې ستا د لاس ډوډۍ وخوړه، بيا يې خپله بکسه (دست قول) خلاصه کړه او يو څو روپۍ يې زما مخې ته ونيولې او راته ويې ويل: دا ستا د بچيو تُحفه ده، ما ورته په ورين تندي وويل، ګلالۍ مه راکوه دومره تکليف مه کوه، خو د ګلالۍ په ډېر ټينګار مې پيسې واخيستې.

فتح دين راته خبرو کې ويلي وو چې ما د ځمکې نه ستر ګې هم نه دي اوچتې کړې چې کوم رنګ ښځه وه، فتح دين ويل چې لږ

وروسته يې زه په اشاره د خپل کور انګړ ته بوتلم او په ورو يې راته غوږ کې وويل: ته لاړ شه په ودانۍ کې دننه کېنه، زما د ميړه سره يو ميلمه راغلی دی کېدای شي هغه ته څه اړتيا شي او دا يې هم راته وويل چې که ميلمه درنه زما په اړه پوښتنه وکړي ته ورته ووايه چې دلته هيڅ کومه ښځه نه ده راغلې او نه يې پېژنو او په آخر کې ګلالۍ راته يوه بله خبره هم زياته کړه چې کاکا جانه! نوموړی ميلمه زما د ميړه سره څه پخوانۍ دښمني لري، که د دواړو ترمنځ تاوتريخوالی راغلو، نو ته د دواړو ترمنځ خلاصي کوه.

فتح دين وايي چې ما ورته وويل: ښه ده بي بي جانې څنګه چې ستا خوښه وي هماغسې به وکړم، ما د ښځې د امر سره سم دوډۍ په نيمايي کې پرېښوده او د ودانۍ په لور روان شوم، کله چې ودانۍ ته دننه شوم په حويلۍ کې دوه څوکۍ پرتې وې، په يوه څوکۍ باندې علي حسن ناست وو او په بله يې ميلمه ناست وو، ما هغوی دواړو ته سلام وکړو او بيا په يوه چوتره باندې کېناستم، څرنګه چې ډېره تياره وه فتح دين ويل ماته د ميلمه شکل او څېره سمه نه څرګندېده او بل دا چې که فتح دين د هغه شکل ليدلی هم وي خو ماته يې په ډاګه ځواب نه راکوو.

زما د بې شمېره پوښتنو په ځواب کې يې يوازې دومره وويل چې

د علي حسن او د هغه د میلمه د قد کچې سره یو برابره وه، دواړه اول یو د بل سره په ورو ورو خبرو بوخت وو، وروسته سره دواړه په خبرو کې تېز شول نږدې وو چې لاس سره واچوي، په خبرو کې یې په څو څو ځله نکاح، د کورنۍ عزت او بې غیرتۍ او داسې نور ټکي شامل وو په دې لړ کې د دواړو نه یو کس وویل: هغه چرته ده؟ یو ځل ورسره زما په هکله خبره وکړه چې تسلي او ډاډګېرنه مې وشي، دویم کس ورته وویل: هغه په یو کلي کې ده، لږ وروسته دواړه پاڅېدل که چیري په دې وخت کې تیاره هم وه خو فتح دین دا خبره وکړه چې د دواړو قد د یو بل سره برابر وو، فتح دین ویل چې دې وخت کې ماته علي حسن په تېزه غږ کړ، فتح دینه ته همدلته اوسه او دا چوکیانې درسره دننه کوټې ته یوسه موږ تر بېرته راځو ته د دې ځایه چېرته لاړ نه شې چې د ودانۍ دروازه هم خلاصه ده، ساده فتح دین ورته ځواب ورکړو، صیب بې غمه اوسه ستاسو تر راتګه به زه همدلته په ودانۍ کې ناست یم.

فتح دین ویل چې کله دواړه د ودانۍ د حویلۍ څخه ووتل د دواړو طرف د سیند د غاړې اړخ ته وو، ما په تت نظر لیدل چې په ونو کې پناه شول.

د دې نه وروسته راته نظیر بي بي داسې وویل: فتح دین چې کله



@shunabo9

د ودانۍ په لور روان شو د لږ ځنډ څخه وروسته علي حسن د
ګلالۍ خواته راغلو او په پټه یې ورسره څه خبرې کولې، په دې
وخت کې علي حسن یواځې وو چې دننه د کور انګړ ته رادننه
شوی وو.

د تللو پر مهال یې د بیړۍ لرګی هم د ځان سره اوچت کړو دا هغه
اوږد لرګی یا کوتک وو چې بیړۍ پرې حرکت کوي، د لرګي د
راخیستو څخه وروسته د باندې اووتو مګر دا خبره سهار فتح
دین ته په ډاګه شوه چې د بیړۍ لرګی د ودانۍ نه د باندې د
دیوال تر خوا ولاړ وو حال دا چې هغه کله هم د بیړۍ لرګی
(کوتک)، د باندې نه وو پرېښی.

فتح دین داسې وویل چې ما هیڅ د
زما د پوښتنې په ځواب کې فتح دین داسې وویل چې ما هیڅ د
شپې پر مهال د بیړۍ اواز نه دی اورېدلی او بل دا چې کومه
بیړۍ په لرګي (کوتک)، حرکت کوي اواز هم نه لري
فتح دین ماته وویل چې ما د علي حسن په امر څوکۍ دننه کړې
او د دوي د راتګلو انتظار مې کولو لږ وخت وروسته ګلالۍ
ودانۍ ته راغله او ماته یې ووېل چې ته څه بېرته لاړ شه، په صبا
سهار ودانۍ خالي پرته وه او موږ ته د څه ویلو نه پرته درې واړه د
ودانۍ څخه تللي وو.

ما د فتح دین څخه وپوښتل، ته څو بجې سهار ودانۍ ته رادننه

شوې وې؟

په ساده خولې يې ځواب راکړ

مامور صيب! زموږ سره ساعتونه چېرته دي؟ موږ ساده خلک يو زه د لمر ختو پرمهال ودانۍ ته وردننه شوم ګورم چې دروازه بېرته پرته ده او دننه په کې هېڅوک نشته، نظير بي بي چې د فتح دين په خوا کې خفه او غمجنه ولاړه وه يې ويل عجيبه خلک دي دوي موږه خبر هم نه کړو او پټ لاړ دي او بيا يې خپل ساده ميړه ته په تريوې تندي وويل:

تاته ما څو ځله ويلي وو چې دلته يې مه پرېږده دوي دواړو کې ضرور څه خبره شته، های ربه موږ ته کوم زيان ونه رسېږي.

فتح دين هم خپل سر ښکته نيولی وو، په دې وخت کې ما نظير بي بي ته اجاز ورکړه چې ته نوره لاړه شه، هغه هم زما د امر سره سم د ودانۍ نه د باندې ووته د ځان سره يې څه عجيبه خبرې هم کولې چې سمې نه اورېدل کېدې:

جنابې پوليس چې زما تر خوا په څوکۍ غلی ناست وو د دوي خبرو ته يې ښه غوږ نيولی وو.

د نظير بي بي د تللو څخه وروسته ما جنابي پوليس ته وويل دغه سرېکړی جسد په همدوي دواړو کې ضرور د يوه ذی چې په همدې ودانۍ کې اوسېدل، هغه هم په هو ځواب راکړو بيا مې

نیازولې ته مخ کړو او ورته ومې ویل:
نیازولېه! که ستا خوښه وي موږ د دې ودانۍ تالاشي اخلو، ستا خو په دې اړه څه نیوکه نشته؟
نیازولې په ورین تندي ځواب راکړو، مامور صیب! په ډېرې خوشالۍ سره، زه هیڅ کومه نیوکه نه لرم.
ما جنابې پولیس د ځان سره کړو او د یوې کوټې په تلاشۍ (لټون) بوخت شو، د پخوانۍ وختونو کوټه وه، پاس چت یې د لرګي د تختو نه جوړ شوی وو، بیا همداسې بلې کوټې ته ننوتو، تردې چې د یوې، یوې کوټې مو څو څو ځله ښه په دقیقه ویلټله واخیسته خو د پام او وړ څه ځیز موږ ته په لاس رانغلو.
په تلو، تلو کې ماته دا فکر راپېدا شو چې راشه دا بخارۍ هم وګوره دا د پخوانیو وختونو یوه نلداره او خټینه بخارۍ وه چې د هوا نل یې پاس د دېوال سره نخلول شوی وو او پاس سر ته یې یو وړوکی سوری وو چې د څنګ د دېوال نه د باندې وتلی وو په ځانګړې توګه د ژمي په موسم کې د دې نه ګټه اخیستل کېده، ځرنګه چې اوس ذوبی او د ګرمۍ موسم وو نو هماغسې په خپل حال ویجاړه او یخه پرته وه.
ما د نیازولې نه د یو اوږد لرګي غوښتنه وکړه د لږ ساعت څخه وروسته نیازولې لرګی راوړو ما هم ترېنه واخیستو او په بخارۍ

کې مې دننه کړو او د بخارۍ په منځ کې مې يو اړخ او بل اړخ ته ښه وخوځولو ناڅاپه لرګی د يو شي سره ولګېدو په دويم ځل نوموړی ځيز په ترپ اواز سره د لاندې راوغورځېدو، زه زر شاته شوم ځکه چې په راغورځېدو سره د بخارۍ تورکي ځلورو اړخو ته خواره شول، چې کله تورکي په ځای ودرېدل نو ګورو چې يوه ګنډه ده، دننه ترې نه يو خبر چې څه ورکې دي؟

جنايي پوليس زر هغه ګنډه را اوچته کړه او بيا يې ورو د لاس د ګوتو په مرسته خلاصه کړه په ډېرې حيرانتيا سره جنايي پوليس راته وويل:

مامور صيب! وګوره دا څه دي؟

ما هم په حيرانۍ وروکتل ګورم چې د ګنډې په منځ کې يو سپين کميس په سرو وينو لړلی ښکاري، جامې کټ شوې وې چې په بل اړخ يې راواړولې په منځ کې يې يوه په وينو ککړه چاړه راووته چې جنايي پوليس د وېرې نه په ځمکه لاندې وغورځوله، تقريباً لس انچه اوږده د قصابانو چاړه وه چې د وينو داغونه پرې په ډاګه ښکاره ښکارېدل، جامې هم په وينو لړلې وې د جامو په مخامخ برخه کې يو څو سوري هم تر سترګو کېدل ما هم د ځان سره فکر وکړو ښکاره ده چې سوري د همدې چړې له امله جوړ شوي وو.

زما په غالب ګمان قاتل به په ډېر تلوار کې دا جامې همدلته

پرېښې وي یا به یې د جامو سوځول غوښتل، خو موقع ورته په لاس نه ده ورغلې. یا به یې ځان سره خامخا دا فکر کړی وي چې د ژمي په یخ موسم کې په نوموړې بخارۍ کې خامخا اور بلېږي، نو د مقتول جامې به په خپله وسېزي او چاته به یې څه پته ونه لګېږي. جامې یې رښتیا هم په ډېرې هوښیارتیا سره د ولاړې ختیني بخارۍ په یو پناه او ګوخه کنج کې په ډېر مهارت سره ځای کړې وې چې اوربلوونکی هم پرې نه خبرېدو او نه توانېدی شو چې پته ورته ولګېږي چې دننه ورکې څه څیز شته او که نه. خو د لاندې برخې نه به یې ورکې لرګي اچول او بیا به یې اور ورته کولو.

په هر حال، مګر دلته اوس زموږ په زړه کې یوه بله ځورونکې پوښتنه راپیدا شوه چې ځواب یې د هیچا سره نه وو، هغه دا چې اوس دا معلومه کړو چې قاتل د دوي دواړو څخه څوک او کوم یو و؟ علي حسن و؟ او که د هغه میلمه؟

ما نیازولي ته وویل چې ته لږ فتح دین تر ما پورې راوغواړه، ځرنګه چې په دې وخت کې فتح دین زموږ سره نه وو موجود او د څه کار پسې کور ته دننه شوی واو بل دا چې نیازولي ته د دې په اړه څه معلومات نه و چې دا د چا جامې دي. لږ ساعت وروسته فتح دین راپیدا شو، ما فتح دین ته په اشاره کې وویل:

ته ښه سوچ پرې وکړه چې دا جامې د چا دي؟ د علي حسن دي او که د هغه د ميلمه؟

په وينو سرې جامې يې چې وليدې او بيا يې ورسره خوا کې په سرو وينو لړلې اوږده چاړه وليده ،نو ډېر سخت وارخطا شو نږدې وه چې په ځمکه راوغورځي، که څه هم چې ښه په وېره کې ګېر وو، خو بيا يې هم په دې خبره کې ځنډ ونه کړ او ويې ويل:

مامور صيب! دا جامې خو د علي حسن دي، په وروستۍ شپه زما په اند د علي حسن پر تن همدا جامې وې د دې خبرو تايد د جامو له بلتيني ځخه هم وشو، په جيب کې يې د خط يوه پاکټ پروت وه چې له پاسه پرې د علي حسن نوم ليکل شوی وو، اوس جوته او ښکاره شوه چې سر پرې کړی جسد د علي حسن وو.

جنابې پوليس هم ماته په مشوره وويل چې هوکې همدا خبره ده، مېلمه به ضرور د ګلالۍ ورور او يا بل نږدې خپلوان وي، په ځانګړي توګه د فتح دين په قول چې د دوي دواړو په وينا کې د غيرت او عزت خيرې کېدلې، خو دا کار هماغه مېلمه ښه په ډاډه او قهرجنه لهجه کولي

موږ په همدې او لټه کې لا هماغسې بوخت وو چې همدلته راباندې غرمه شوه، موږ هم نور بيرته تلو ته ځان چمتو کړ او د فتح دين او نيازولې نه مو خدای په اماني راواخيسته، د ودانۍ

د دروازې څخه لاراوتلي نه وو چې کتل مو ملک نورجمال سره دوو نورو تنو چې په سر يې ډوډۍ او شکور وو زموږ خوا ته راروان وو، څرنګه چې موږ هم د ډېرو هلو ځلو او کوښښ څخه وروسته ډېر زيات اوږي شوي وو، نو ډوډۍ مو بې ستړه وخوړه.

ملک نورجمال چې د کلي مشر هم و، ډېره خوندوره او غوړه ډوډۍ يې تياره کړې وه، د ډوډۍ د خوړلو په لړ کې مو خبرې هم کولې، د نورجمال نه مې د تکليف په اړه بښنه هم وغوښته خو څنګه چې هغه دپلټنې په اړه ونه پوښتل نو، موږ هم خپلې خبرې د هغه د خبرو پر بنا کولې.

ډوډۍ مو چې وخوړه د لږو خبرو نه وروسته د تلو په حال کې و. خو د ډېر خوراک له امله راته څه ستړيا محسوسه شوه، غوښتل مې چې د ودانۍ نه کټونه را اوباسو او د ښايسته او شنو ونو په منځ کې تازه او پاکې هوا ته لږ اوده شو، خو بل خوا راته ډېر کار پاتې و له دې امله يې د کوم ځنډ نه د هغه ځايه رخصت او راروان شوو.

ماموريت ته چې ورسېدو هلته مو څه نميګړي کارونه مکمل کړل او څو نور اړين کارونه مې داتيول کړل.

ځارنوالۍ ته او نږدې ماموريتونو ته مې هم د نوموړې پېښې په هکله اطلاع (خبر) ولېږو او دوه پوليس او (جنايي پوليس) مې د

ځان سره کړل په هغه ادرس چې مور ته دعلي حسن د جيب نه
کوتو ته راغلی وو روان شو.
دا ادرس د يو دولتي اپارتمان و، يعنې دولتي مانی وه، په نيم
ساعت کې د بګۍ په مرسته تاکلي ځای ته ورسېدو.
دا يو داسې ځای و چې په يو قطار او نقشه باندې ټولې کوټې
جوړې شوې وې، دا د هغو ځانګړو خلکو لپاره وې چې په دولت
کې يې دنده درلودله.
ما د ادرس له مخې د دويمې کوڅې چپ لوري ته دريمه دروازه
وټکوله، لږ وخت وروسته يوې زړې سپين سرې ښځې دروازه
خلاص کړه، زه او زما سره د جنايي پوليس او دوو نورو پوليسو
درېشي يې چې وليدلې نو ډېره سخته وارخطا شوه او په ترپ
سره يې دروازه بېرته بنده کړه، پردې مهال کې يو پوليس
ورباندې غږ کړه موريې! زموږ د علي حسن سره کار دی دا د علي
حسن کور دی؟
سپين سرې چې د علي حسن نوم واورېدو دروازه يې بيا
پرانيسته، په دې وخت کې سپين سرې وويل: علي حسن په کور
کې نشته چېرته لاړ دی، آيا تاسو ورسره څه کار لرئ؟
ما سپين سرې ښځې ته په حيرانتيا وويل: مورې ماته معلومه ده
چې علي حسن په کور کې نشته، زه له تا نه د يو څو پوښتنو

کولو لپاره راغلی یم، غواړم یو څو پوښتنې درنه وکړم.
سپین سرې چې د علي حسن د تښتېدو د پېښې ورته معلومات و خو دا ورته نه وه معلومه چې علي حسن د ګلالۍ سره چېرته او کوم ځای ته لاړ دی، خو ناڅاپه یې چې موړه ولیدو، نو وویرېده چې هسې نه د ګلالۍ کورنۍ پرې غلط راپور نه وي تېر کړی، په حیرانتیا سره یې راته وویل: څه پوښتنې لرئ؟
ما ترې وپوښتل آیا علي حسن ستا زوی دی؟
بوډۍ ځواب راکړو: هو مامور صیب علي حسن زما زوی دی، ستاسو ورسره څه کار دی؟!
د دې نه یې وروسته زه حجرې ته دننه کړم او بیا یې په تلوار سره راته رسمي سلام ستړي مشي وکړه پولیس او جنابي پولیس مې د باندې پرېښودل، بوډۍ دې خبرو ته په انتظار وه چې اوس به زما څه پوښتنې لري، پردې مهال کې یو څوارلس کلن زلمی هم حجرې ته رادننه شو، ما د حجرې د دروازې څخه بیرون اړخه یو باریک (څرګنده) نظر هم واچولو چې یو دوه ځواني انجونې د دروازې شاته په نظر راتلې، د کېناستو سره سم راڅخه د علي حسن زړې مور وپوښتل: مامور صیب زموږ نه څه پوښتنې لرئ؟
د څو کورنیو خبرو څخه وروسته مې بوډۍ ته مخ کړو، مورجانې! ستا زوی ته یوه خطرناکه صدمه (پېښه) رسېدلې ده،

زړې بوډۍ چې په ناڅاپي ډول زما د خولې وتلي وينا واورېده، نو داسې سخته د خفګان او د وېرې چپه ورباندې راغله چې تا به ويل چې همدا اوس د غمونو او مصيبتونو په بازار ورګډه شوه. ناڅاپه يې ژړا او فرياد پيل کړو چې تولـه حجره يې پـه سر واخيسته او په ژړا، ژړا يې داسې وويل:

های مړه شوم. څه شوي دي زما په ګران ځوی علي حسن باندې؟ ده خو موږه خبر هم نه کړو او داسې کار يې کړی دی، زه بـه اوس د دوي خوښه شم چې کلي کې مې دا خبره ګډه کړې نه وي نه يې پرېږدم، ماتـه د خپـل ځوی قـاتلان معلوم دي. د بـوډۍ په ژړا او انګولا پـه دروازې کې ولاړې انجونې هم رادننه شوې او د علي حسن په اړه تولو په يو وار پوښتنې پيل کړې، د هغوی د خبرو او د خفګان نه ما تـه څرګنده شوه چې دواړه انجونې د علي حسن خورګانې وې او نوموړی هلک يې ورور و، د دوي ژړا چې لږ په قـرار شـوه، نـو د بـوډۍ څخـه مې وپوښـتل، ستا زوی سره پـه نوموړې ورځ يوه انجلۍ هم وه چې ګلالۍ نومېده آيا تاسو د ګلالۍ په نوم کومه انجلۍ پېژنئ؟

په دې خبره په حيرانتيا سره دواړو انجونو د مور په لور وکتل او بيا يوې انجلۍ چې د بلې څخه مشره معلومېده راته وويل:

مـامور صـيب! د هغـې پـوره نـوم رُخشنده دی، پـه هغـه مخـامخ

دریمې حویلۍ کې اوسېږي، ما ترې بیا وپوښتل آیا هغه
انجلۍ ستا د ورور سره واده کړی و؟
انجلۍ په حیرانۍ ځواب راکړو، د حسن ورور سره؟ نه د هغې
خو......
خبره یې په نیمایي کې پرېښوده، زه پوهه شوم چې کشرې خور
ورته د سترګو په اشاره څه وویل.
ما ورته وویل: که تاسو زما حقیقت پېژنئ، ستاسو خپل زیان
دی، حال دا چې زه ستاسو د مرستې لپاره راغلی یم، په ډاډه
خپلې خبرې کوئ، زه په دې مسئله کې تاسو سره ملګری یم او
که تاسو د رښتیا وینا په ځای درواغ ووایئ، نو دې کې زه تاسو
سره هېڅ ډول مرسته او همکاري نه شم کولای.
په دې خبره کشرې خور یې ځواب راکړو، صیب! د هغې خو دوه
درې ورځې مخکې کوژدن شوې ده، د خسر کورنۍ ورته جوړه او
کومه بله ګلالۍ وي، آیا ستاسو ورور خو د چا سره مینه نه
دزلوده؟ ما ورته طنزاً وویل: زما په ګومان هغه به
انجلۍ اول لږ څه غلې شوه، د لږ سوچ نه یې وروسته وویل:
مامورصیب! موږ دې کې هېڅ نه یو ملامت او نه په دې خبره کې
زما د ورور علي حسن کوم قصور و، همدا بدبخته وه، د همدې

بې شرمې او بې حيا له لاسه زما ورور کور پرېښی دی او سپين سرې مور او پلار يې په کور کې غمجن او خفه دي او دی بې غمه لاړ دی، خو زما په باور چې د ګلالۍ نه خو مور نه يو خبر شايد چې زما ورور يواځې لاړ وي.

ما ترې بيا وپوښتل، آيا ته په دي باورې چې ستا ورور د کور څخه يواځې وتلی دی؟ او لاړ دی؟

په دې خبره بوډۍ لږ څه په غصه شوه او په غصه يې وويل:

مامور صيب! ته آخر څه وايې، ته ولې مور ته په ډاګه نه وايې چې علي حسن ته کوم زيان ورپېښ شوی؟

ما ورته وويل: مورجانې زما باور دی چې ستا د زوی سره د ګلالۍ په نوم يوه انجلۍ هم وه، دواړه پېنځه ورځې د سيند په غاړه په يوې ودانۍ کې اوسېدل، د ودانۍ مالکانو ته يې ځان ښځه او مېړه ښودلي...

او بيا مې زر ورته د خپل بکس(صندوق) نه په وينو لړلې جامې راوښکلې او ورتهومې ويل دا ستا د زوی جامې دي چې مور ته د پلټنې په لړ کې د ودانۍ نه لاس ته راغلې او بيا مې ورته په وينو لړلې چاړه وروښوده او ورته ومې ويل: زما باور دی چې ستا زوی چا وژلی دی.

ښځې او د هغو لورګانو چې د علي حسن په وينو سرې جامې

ولیدې په ژړا او انګولا یې بیا پیل وکړه، د دوي په دې ژړا کې دومره سوز او فریادونه یو ځای شول چې په لږ ساعت کې د کلي ډېر خلک د دوي دروازې ته ودرېدل چې ډېری یې ښځې او کوچنیان وو.

په هر حال ما ورسره د پوره همکارۍ وویل او ډاډ مې ورکړو چې په دې مسئله کې به ضرور ستاسو سره مرسته کوم، خو د حق خبرې نه سرغړونه زما څه چې د قانون نور چارواکي یې هم نه شي کولای او زر مې جامې په بکس (صندوق) کې واچولې او د باندې راووتم، زه لا د باندې راوتلی نه وم چې یو سپین ږیری سړی د همدوي د کور نه چې د علي حسن پلار و زما پسې شاته راروان دی او په سترې ساه یې وویل:

مامور صیب، مامور صیب، لږ اودرېږه! همدا اواز یې کولو او زما خواته رانږدې شو په مخ کې یې د خفګان نښې له ورایه څرګندیدلې، آیا دا خبرې چې تا وکړې رښتیا دي، په ژړغوني اواز یې همدا خبرې بیا بیار تکرارولې، آیا زما ځوی علي حسن بیا نه راځي؟

آیا علي حسن ځوی مې رښتیا چا وژلی دی؟ های خدایه خاورې مې په سر شوې، ما ورته وویل: باباجانه! موږ د سیند پر غاړه یو نیم جسد موندلی دی خپې لاسونه او سر یې ورک دي، د دې له

امله زه په ډاګه نه شم ویلای چې دا به د علي حسن جسد وي د
دې نه پرته دا په وینو سرې او ککړې جامې موږ په ودانۍ کې
موندلې دي او جامې مې ورته وښودلې او بیا مې ورته وویل چې
جسد موږ روغتون ته لیږلی دی، که ته یې جسد پېژندلای شې،
نو روغتون ته لاړ شه، په دې خبره سپین ږیری زما له خوانه
غمجن او خفه بېرته په خپلو راغلو قدمونو د کور په لور ستون
شو.

په هر حال ما خپله دنده پوره کوله، ما د دوي په کور کې د
ګلالۍ د کور پوښتنه په دقیقه ونه کړه، دوي یوازې دا راته وویل
چې د ګلالۍ کور زموږ د کور نه هاغې اړخ ته درېیم کور دی،
خو دا یې راته ونه ویل چې د کوڅې چپ اړخ دی او که ښي اړخ
خو ما د خپل فکر او سوچ نه کار واخستو او د حویلیو په ښي
اړخ د درېیم کور دروازه مې وټکوله.

لږ وخت وروسته یو سړي راووتو عجبه، وه هغه سړی ما پېژندلو
چې د هغه نوم شیخ نصیر احمد و چې په یو دولتي محکمه کې
یې وظیفه درلوده، زه یې چې ولیدم ډېر حیران شو، په ډېر ادب
او درنښت سره یې راته ستړې مشي وکړه او په راښکلو، راښکلو
یې حجرې ته دننه کړم، په حیرانۍ یې راته وویل:

مامور صیب! خیر خو دی، څنګه دې دلته پښه راوکړه؟ دې

لوري ته څنګه راغلط شوې؟ زما باور دی چې په سهواً دلته راغلی يې او په خندا شو ماهم د ده د خندا ځواب په خندا کې ورکړو او ورته ومې ويل شيخ صيب ربښتيا هم چې ما لاره غلطه کړې او سهواً دلته راغلی يم، قسمت ستا کور ته مخامخ کړم.
خبره دا ده شيخ صيب چې زه د يو قتل د پلټنې په اړه دلته راغلی يم، دلته د رخشندې په نوم کومه انجلۍ اوسېږي؟
شيخ ځواب راکړو د همدې کوڅې هغه بلې غاړې ته اول نه دوهم کور حويلۍ کې اوسېږي، تاته د دې اړتيا څنګه پېښه شوه؟
ماورته په واضحه وويل: شيخ صيب! آيا دا انجلۍ د کور نه تښتېدلې ده؟
شيخ راته وويل څه خبره خامخا شته، لېکن ماته سم معلومات نشته، زه به خپله مېرمن راوغواړم، په دې خبره يې ماته د حجرې دروازه خلاصه کړه او دننه په کوټه کې يې کېنولم او بيا يې راته داسې وويل:
مامور صيب! ته خو په خپله د داسې پېښو سره زيات اشنايي چې د پلټنو په مهمو اړخونو کې ډېرى وندې ښځې اخلي، يعنې څرنګه چې په يوه داسې پېښه او نورو کارونو کې ښځه معلومات لري، نارينه يې نه شي لرلی، په دې خبره د کوټې څخه ووتو، له لږ ځنډ وروسته د سلام په اچولو بيا راننوتو او ويې ويل: مامور

صیب! مېرمن مې یو دوه ګلاسه شربت جوړوي او راځي، تقریباً پنځه دقیقې وروسته د هغه مېرمن سره د دوه ګلاس شربته کوټې ته رادننه شوه، هغه د دېرشو خوا او شا کې یوه ښایسته او صحت منده ښځه وه، زما چې پرې څنګه نظر ولګېد، نو د ځانه سره مې وویل: ښځه چې دا دومره ځنګ شوه، کېدای شي په ځان سینګارولو یې وخت تېر کړی وي، هغې شربت په مینه، مینه کېښود او په یوه څوکۍ باندې کېناسته، دې وخت کې شېخ نصیر احمد خپلې مېرمنې ته وویل، دا زموږ د ماموریت سرمامور دی او بیا یې زما په اړخ مخ کړو ویې ویل:

مامور صیب دا زما مېرمن ساجده ده، بیا ګل مینه ته وکتل او په خندا یې وویل: ګل مینه! اوس خو دې دا دی په خپله ولیدل، مادرته نه ویل چې تانه دار صیب (مامور صیب) زما نږدې ملګری او دوست دی، په دې خبره ګل مینه ورته په یوه نری مُسکا وویل: دومره شیخي ماري مه کوه مامور صیب به دلته د څه کار لپاره راپېښ شوی وي؟

شېخ بیا په خند بدلې خبره ماته مخ راواړاوه او و ویې ویل:

مامور صیب! زه اکثره په کور کې ستا یادونه کوم چې ملک صفدر حیات زما نږدې ملګری دی او زه ورسره نږدې اړیکې او پېژند ګلوي لرم، مګر ساجده زما په خبرو باور نه لري، ما ورته په

خندا وويل: څنګه به ستا په خبرو باور ولري تا خو تراوسه خپله دبلنه نه دی راکړې، زه خو رښتیا هم دې کوڅې ته په خپله راپېښ شوم.

په دې خبره شیخ هم وخندل او ويې ويل:

مامورصیب وشوه، راتلونکی هفتې ته به زما میلمه يې د ډوډۍ به زما سره خورې، پردې مهال کې مېرمن ګل مینه هم ده په خبرو کې برخه واخیسته او ويې ويل: هو مامور صیب چې راځې وربندار (مېرمن) دې هم له ځان سره راوله، ما ورته هو جواب ورکړو او نور مې دا هم غوښتل چې خپلې خبرې همدلته لنډې کړو او ګل مینه ته مې مخ واړوه.

بي بي! شیخ صیب وايي چې دا د رخشې په هکله معلومات لري او د ټولې پېښې څخه مکمله خبره ده، آیا تاته د دې خبرو اومسئلې په هکله رښتیا څه معلومات شته؟

په دې خبره يې لږ څه سر کوږ کړو او د خپل ځواب پیل يې په دې ډول وکړو:

مامور صیب! پوښتنه يې مه کوه، د نن صبا په انجنو نه پوهېږم چې څه شوي دي، چې لږه زده کړه او تعلیم وکړي، بیا د مور او پلار قدر څه چې مخ يې توروي، بیا د خپل واک او اختیار خاونده شي چې څرنګه ازادي غواړي کولای يې شي، خو دا نه

کوري چې دې کې زما خیر دی یا شر زما ورکې نیک نامي ده یا بدنامي؟خو خیر دا مور ته د غربي نظام د پلویانو ا دښځو د حقوقو غوښتونکو غربي اداریو ترخه ډالۍ ده چې زموږ انجوني په ښوونځیو کې اخلاق نه بلکه بد اخلاقي زده کوي
په هر حال رُخشنده په کړه وړه کې ډېره ساده انجلۍ وه. ښایسته هم وه. خو ماته چې د دې د پټو رازونو او خبرو معلومات وشو حیرانه شوم. په همدې مخامخ قطار کې یوه حویلۍ ده چې خالي پرته ده. دې نږدې جوختې حویلۍ کې علي حسن اوسېږي. علي حسن په یو دولتي محکمه کې یو وړوکی مامور دی. دا مې هم اورېدلي چې ډېر هوښیار او چالاک او پوره رشوت خور هم دی. نور به خدای ج خبر وي. ماته هم پوره معلومات نشته چې رُخشندې او علي حسن د کومې ورځې نه دواړو د یو بل سره اړیکې لرلي او په کوم لامل د دواړو سره مینه او دوستي پیدا شوه. علي حسن به ورته ورېږ. وړې ډالۍ هم د ښار نه راوړلې خو وروو ورو یې دوستي همدې حد ته ورسېده چې د حقیقت نه یې ته پخپله هم ښه خبر یې
رُخشندې خو دې خبرو ته مینه او محبت ویلو. مګر ما نه منله. په کوم کار کې چې د مور او پلار او د خپل ناموس بدنامي کېږي هغه مینه نه ده بلکې هغې ته بې شرمي او بې حیایي ویلی شي.



@shukuboo9

زخشندې ته به چې موقع په لاس ورغله. نو خالي حوېلۍ ته به د کور د غړو نه په پټه د علي حسن د دليدلو لپاره ورتلله. علي حسن به هم ورته يو وخت ټاکلی وو. چې په ټاکلي وخت به دواړو په حوېلۍ کې هغه څه کول چې بيانول يې دلته اړتيا نه لري. په دې کار کې څو ځله د کلو خلکو هم دواړه ليدلي وو. تردې چې مور او پلار يې هم پرې خبر شول او زخشنده يې په کور کې بندې کړه. خو هغه مينه چې د دوي په زړه کې يې ځای نيولی وو د دوي دواړو زړونه چېرته صبر بدل. د پلار او مور د سختۍ له امله د دوي ليدنه کتنه د شپې پيل شوه.

زخشنده به په توره تياره کې چې د کور ټول غړي به اوده شول خالي حوېلۍ ته راووتله او د خپل آشنا علي حسن سره به يې د وصال په ماښامونو شمې بلولې. ماته د دې په زړورتيا ډېره حيرانتيا ده چې زخشنده به په دې توره تياره شپه کې راوتله او د يو نامحرم سره به يوازې په خالي حوېلۍ کې تر ډېره مشغوله وه. خو دا ورته نه وه معلومه چې دا زما نېک نامي ده او که رسوايي او بدنامي. په هر حال چې مور و پلار ته يې نوره خبره سخته شوه نو خپله لور يې وژلې هم نه شوه او نه يې خپل کور او کورنۍ بدناموله شوه. هغوی دې ته اړ شول چې زر تر زره د دې واده وشي. حال دا چې پلار ته يې په کار و چې همدې علي حسن

...ه یې کوږدن کړې وای، خو پلار یې په دا نه زغمله چې زما لور دې یو رشوت خور او بدفعله انسان ته کوږدن شي. سربېره پر دې چې د خپلې لور غلطیو ته یې سوچ نه و او بله دا چې د دوی دواړو ښه خوښه او رضایت و. خو پلار یې په هماغه خپله خبره ولاړ و

د علي حسن مور څو، څو ځله د ګلالۍ کور ته په جرګه مرکه هم ورغلې وه. د کلي سپین ږیري او مشران یې هم ورته کېنولي و مګر د زخشي د کورنۍ په خوله کې یوازې همدا یو خواب و چې نه یې درکوو

بالاخر د خدای کړه وه. څو اوونۍ وروسته د ګلالۍ د غوښتلو لپاره د ملکوال نه یوه رشته د خپلولي او خېښۍ په وجه راغله د دوی کورنۍ هم چې د خپلې لور کمال او کره ورډ ورته معلوم و. نو انکار یې ونه کړ او د دواړو کورنیو د واده د ژر ورکړې په خبره کې خوښي ښکاره کړه او د کوژدې نېټه یې معلومه کړه.

ګلالۍ چې د دې حالت نه خبره شوه. نو شپه او ورځ وربانذې یوه شوه. بل لور ته چې علي حسن په دې خبره خبر شو هغه هم بې اوره سوځېدو. څرنګه چې د مینې او محبت رازونو د دواړو ترمنځ یوه لاره او یو تار کلک کړی و. نو د خپلې وفا په پایښت یې آخر تښتې ته ملا وتړله چې سبب یې د مورو پلار بدنامي او

مخ توري وه. د دوي کوژده لانه وه ترسره شوې چې د کورنۍ دوارو د تېښتې لاره غوره کړه او وتښتېدل

د ګلالۍ کورنۍ چې د دې حاله خبره شوه نو د شرم نه يې د چا سره ستر ګې نه شوې غړولې. خو په ډېرې هوښياری به يې دا خبره پټه هم ساتله. که چا به ترې د ګلالۍ په اړه څه پوښتنه وکړه. نو دوي به ورته بهانه وکړه چې د ماما کره لاړه ده. خو بيا هم هغو په پټه د ګلالۍ په لټون کې وو

يو څو ورځې وروسته دا وښول چې ،د زوم د کورنۍ خلک د کوژدن د مراسمو ترسره کولو لپاره د دوي کور ته راغلل جوړه او ګوتمه(ښبه) يې هم له ځانو سره راوړې وه. د ګلالۍ مور . پلار او خويندې د شرم او پښېماڼتيا د خوندي ساتلو لپاره د ګلالۍ بله خور چې عايشه نومېده ښه ښايسته جوړه کړه او د ناوې په ډول يې د زوم د کورنۍ مخ ته کېنوله. د زوم کورنۍ چې ګلالۍ دوه درې ځله ليدلې هم وه او بل دا چې د دوارو خورګانو د عمرونو ترمنځ يوازې يو کال توپير و او څېرې يې هم يو بل ته ورته وې. د زوم د کورنۍ خلکو ته په دې کار کې هيڅ شک هم رانغلو او ګوته يې د عايشې په لاس کې ور کړه او په خندا او خوشالۍ ترېنه رخصت شول. دا خبره د دې کوڅې د ذوو . دريو کورنيو نه پرته بل هېچا ته معلومه نه ده

د ګلالۍ کورنۍ اوس هم په کوښښ کې ده نو په هره ډول چې وي غواړي خپله لور په چپه خوله کورته راولي

د ګل مینه خبرې لا پیل وې. ما ترې وپوښتل. آیا د ګلالۍ ورونه هم شته؟

ګل مینه ځواب راکړ. هو دوه ورونه یې شته چې یو ورور یې د همدې په لټه کې لاهور ته تللی دی او بل کراچۍ ته

ګل مینه چې دا ټولې خبرې وکړې په لږ فکر کې ډوبه شوه چې د یوې پوښتنې په اړه راته خپل ګمان او باور داسې ځواب راکړ

شاید چې کوم سړی د علي حسن سره په ودانۍ کې په اخري شپه میلمه و. هغه یا د ګلالۍ ورور وو او یا یې کوم نږدې بل خپلوان

ما ترې وپوښتل بي بي آیا تاته د دې په هکله پوره معلومات شته دی چې ګلالۍ کور ته بېرته نه ده راغلې؟

ګل مینې ځواب راکړ. ما ته خو بشپړ معلومات نشته. زه درې څلور ورځې کېږي چې د ګلالۍ دوي کورته نه یم ورغلې

څرنګه چې ما د شربت ګلاس خلاص کړی و نور مې نه غوښتل چې خبرې زیاتې کړم. د پلټنې مهمې نقطې مې له خان سره په کتابچه کې نوټ کړې او د اوونۍ د ورځې د راتګ وعده مې ورسره وکړه او د خدای پامانۍ نه وروسته راووتلم. شېخ نصیر

راسره د باندې راووتو او د حویلۍ د دروازې څخه ترې رخصت شوم.

په کلي کې د سر پرېکړي جسد غوغا او شور جوړ شوی و. ما ډېرې بنځې او ماشومان ولیدل چې د علي حسن دوی کور ته د هغوی سره د غم شریکولو لپاره روان وو. خو ډېر پرشمیر خلکو ماته هم ډېر په ځیرک کتل.

جنابې پولیس او نور پولیس زما په انتظار کې د کوځې په یو غاړه کې ولاړ وو. د هغوی سره یوځای شوم او د کلالي د کور پر لور روان شو. په لاره کې یو بل فکر راته پیدا شو.

جنابې پولیس ته مې وویل: ته لاړ شه او دا چاړه دلته ځان سره بازار ته یوسه چې موږ د نوموړې ودانۍ څخه راوړې وه. د دې ډول چړو به دوه درې دوکانونه وي. ته د دوکاندارانو نه د همدې چړې د پېرودونکي په اړه معلومات ترلاسه کړه او دا چاړه هم ماته نوی ښکاري کېدای شي په همدې ځو لندو ورځو کې پېرودل شوی وي.

د جنابې پولیس له رخصتېدو وروسته ما د کلالي د کور دروازه وټکوله. د لږ ساعت وروسته یو سړي دروازه خلاصه کړه. څرنګه چې د کلالي کورنۍ له وړاندې نه دا معلومات درلود چې پولیس د کلالي په لټون پسې بوخت دي او د پولیسو پلټنې لا

اوزي دي. نو چې زه يې سره د دوه پوليسو په دربشي کې وليدم، تنده يې تريوه کړه. د عمر نه به د ځلوښتو په خواوشا کې و. په حيرانۍ يې مورته وويل:

امر کوئ ښاغلو. څه خدمت لرئ؟

ما ترينه پوښتنه وکړه، کاکا جانه! د رُخشندې په نوم انجلۍ همدلته اوسېږي؟ هغه پرته د دې چې ماته ځواب راکړي په تنده لهجه يې وويل: ولی؟ ستاسو ورسره څه کار دی؟

د دروازې شاته مې د بنګړيو شرنګا هم تر غوږ شوه زه پوره شوم چې د سړي شاته کومه ښځه هم ولاړه ده. ما ورته وويل: ما د ګلالۍ په هکله څه خبر راوړی دی. سړي په خپلې حيرانتيا څه ناخبره غوندې بڼه غوره کړه.

مامورصيب! د ګلالۍ په هکله څه خبره؟ زه خو ستا په مطلب پوه نه شوم؟

ما ورته په تنده لهجه وويل:

کاکا! د ښځو معامله ده. که دا خبره دننه وکړو نو ښه به وي. سړي غوښتل چې په "نه" ځواب راکړي. خو د هغه نه شاته ښځې اواز وکړ. حفيظه ورووره راننه يې باسه! کېدای شي زموږ په ګټه خبره کوي. دا خو پوليس دی له دوي نه هېڅ کله خبره پټه نه شي پاتې کېدلای.

سړي په تلوار سره ماته شا کړه او په ترپ يې دروازه بنده کړه او په ورو آواز يې ښځي ته څه عجيبه الفاظ وويل چې سم نه اورېدل کېدل. وروسته معلومه شوه چې ياد شوی سړی د ګلالی تره وو او هغه ښځه يې مور وه چې فاطمه نومېدله. دواړو تر څه وخته ورو ورو خبرې کولې مګر کله به يې په تېزه اواز هم راغلو، حفيظ احمد غوښتل چې ما د دروازې څخه رخصت کړي، خو فاطمې ويل چې رانه دې وځي، په دې وخت کې حفيظ په دروازه کې سر راښکاره کړو او ماته يې وويل:

مامور صيب: يوازې دوه دقيقې صبر وکړه او بيا يې دروازه پورې کړه، پردې مهال کې يې په غالب ګومان خپله ورېندار يو ګوښه ځای ته بوتله. دننه نه د هغوی اوازونه د باندې راتلل، ماته د هغوی په دې هوښيارتيا او چالاکۍ تعجب ښکاره شو. له ځانه سره مې وويل چې داسې خلک هم شته چې پوليسو ته دهوکه ورکوي، په هر حال زه هم د باندې چپ ولاړ وم او د دوی په انتظار وم چې لږ ساعت وروسته حفيظ احمد راووتو او ماته يې په اشاره وويل: راځه مامورصيب، زه هم ورننه وتم پوليس مې د باندې پرېښودل. د ورننوتو سره سم يې حجرې ته دننه کړم، ما ليدل چې په مخ کې يې د خفګان نښې ښکاره کېدلې. ښکاره خبره وه چې حفيظ احمد خپله ورېندار په خبره قايلوله. خو ناکام

شو، په دې وخت کې يې ماته وويل کښه مامورصيب څه خبر دې راوړی دی؟
ما د ده د خبرې د خواب ورکولو پر ځای د کوټې څلورو اړخونو باندې نظر واچولو. هماغه د نصير احمد او علي حسن دوي د خونو په شان نقشه يې وه البته سامان او اسباب يې بيل ډول وو، معلومېدل چې دولت تولې حوېلی په يوه نقشه جوړې کړې وې، په دې وخت کې حفيظ احمد په بې قرارۍ سره ماته راوليدل او راته ويې ويل:
مامور صيب: تا د ګلالۍ په هکله څه خبر راوړی دی؟
ما ورته د ځواب پر ځای وويل:
آيا د ګلالۍ پلار په کور کې شته؟
هغه چې دا خبره واورېده په مزاج يې ښه ونه لګېده، تندي يې لږ څه تريو کړو او ويې ويل: د هغه لږ څه طبيعت خرابه دی او ناروغ هم دی که ته څه وايې ماته يې ووايه زه هم د دوي د کور سړی يم، ما د هغه خبره وتلله او ورته ومې ويل، رښتيا خبره دا چې د ځواني لور پېښه او غم سړی خامخا پرېباسي او بيا مې ورته په طنز وويل: حفيظ صاحبه! ته د ګلالۍ څه کېږې؟
هغه ځواب راکړو، زه د هغې تره يم او بيا يې ورسره دا خبره ګنده کړه ښښنه غواړم مامورصيب تا د کومې غمجنې پېښې په اړه

خبره کوله؟

ما ورته په لنډه توګه وویل: آیا ګلالۍ بیرته کورته راغلې ده؟ دا خبره یې چې واورېده په تروه لهجه یې راته وویل:

مامورصیب ځرګندیږي چې ته په کومې تیروتنه کې دا خبره کوې، زما په اند کوم غلط سړي تاته ناسم راپور درکړی دی. خبره یوازي په داسې ډول ده ماموصیب چې ګلالۍ او د هغه وړور امیر احمد د ماما کره لاهور ته لاړ دي څو ورځې وروسته به بېرته راشي، ما د دې خبرې د منلو نه پرته ورته په سخته لهجه وویل: د هغوی د تګ څومره ورځې کېږي؟

ځواب یې راکړو، پینځه شپږ ورځې به کېږي، زه پوه شوم چې د خپلې خبرې د خوندي ساتلو لپاره یې دروغ وویل او خبره یې زما نه هم پټه وساتله، ما ورته بیا په تروه لهجه وویل:

حفیظ احمده! په دې خبره ښه فکر وکړه...... کیدای شي چې د هغوی لاهور ته په تګ باندې د شپږو ورځو نه ډیرې تېرې شوي وي؟

د ګلالۍ مور چې د دروازې تر څنګ پټه ولاړه وه زمونږ خبرې یې اورېدلې له هغه ځایه یې اواز وکړ، کیدای شي چې نهه لس ورځې به کېږي، ما ورته وویل: ما اورېدلي دي چې درې ورځې وړاندې د ګلالۍ کوژدن هم شوې ده او د خسر کورنۍ ورته جوړه

وګوته هم راوړې ده. حفيظ احمد چې دا خبره واورېده د پر سخت وېرې لاندې راغلی او ويې ويل هغه. خو ... هغه. خو د عايشې کوژدن وه. په مخ کې يې د خفګان او غم نښې له ورايه څرګندې شوې. زه پوه شوم هغه دروغ چې ده ويلي وو. ده سره يې کومه مرسته ونه کړه. دا رښتيا خبره ده چې حقيقت وينا رښتيا چې هم ترخه وي. خو دننه ورکې خوږه مېوه پرته ده. په دروغو به تر يوه ځايه پورې ځان بچ کړي. خو وروسته ورکې د پر جنجالونه او خطرات پراته وي. خو دا هغه وخت چې کله يو سړی په خپلو دروغو کې راګېر شي.

ما ورته بيا يو ځل وويل: حفيظ صاحب! يو ځل بيا خپل ځان ته په ګرېوان کې سر ښکته کړه. ملکوال له دې ځايه ډومره لېرې نه دی. زه همدا اوس پوليس استوم او د هغه ځايه د دې خبرې تصديق راوړم. دا خبره يې چې واورېده د ګلالۍ مور فاطمه رامخې ته شوه. په غالب ګومان د پنځوسو کالو يوه مضبوطه او صحت منده ښځه وه. د هغې په مخ کې هم د خفګان ژورې نښې ښکاره کېدلې. او په يوه پرېکړي ځواب يې دا ډول وويل: مامورصيب! دا زموږ خپله کورنۍ مسئله ده. زموږ خپل جنجال دی. موږ يې په خپلو منځو کې حل کوو. که ته دا خبره د پره ويلتې. نو موږ به د رسوايۍ او شرم سره مخ شو. موږ خو څه جرم



@shumaboo9

نه دی کړی خیر دی موږ په خپل حال پرېږده. ما ورته د همکارۍ په ډول وویل: ګورئ تاسو داسې خلک یئ چې زما څخه خپل حقیقت پټوئ. حال دا چې زه تاسو سره د مرستې لپاره راغلی یم. که زه تاسو ته دا ووایم چې ستاسو لور ما د یو قتل په تور نیولې وي او په زندان کې زموږ سره بندي ده، نو تاسو به کوم چلند غوره کړئ؟

فاطمه زما د خبرې په مفهوم پوهه نه شوه. سم له واره یې خولې یوه نعره وختله او په ژړغوني اواز یې وویل: های خدایه. او په اشاره یې ماته وکتل. مامورصیب! دا څه وایې ګلالۍ او قتل؟ دا بالکل دروغ دي چې زما لور دې څوک قتل کړی وي. هغه خو ډېره بې بدو انجلۍ وه. په دې وخت کې حفیظ احمد هم په دې خبره کې راګډ شو او د سپیناوي لپاره یې دارنګه وویل: مامورصیب! دا بالکل دروغ دي ته هسې په موږه د دروغو تور لګوې. ما ژر د خپلې بکسې (صندوق) نه په وینو ککړ قمیص راوښکلو او د دوی مخې ته مې کړ او ښکاره مې ورته وویل اوس خو مو باور راغلو کنه؟

په دې وخت کې د ګلالۍ پلار هم دننه راننوتلو چې نوم یې وروسته کبیر احمد معلوم شو، هغه د حفیظ احمد په پرتله کمزوری وچ کلک او د شپېتو کالو ته نږدې سپین ږیری سړی و.

واقعي چې د خپلې لور پېښې زيات اند ښمن او غمجن کړی وو، په همدې دوران کې ما خپله خبره روانه ساتله او ورته ومې ويل چې دا ستاسو د ګاونډي علي حسن جامې دي، د هغې سر پرېکړی جسد موږ د سيند په غاړه موندلی دی، هغه تقريباً د نهو ورځو راهيسې د ګلالۍ سره يو ځای د سيند په غاړه يوې ودانۍ کې اوسېده . د ودانۍ څوکيدار ماته ويلي وو چې علي حسن او ګلالۍ دواړو خپل ځان ښځه او خاوند معرفي کړي او دا يې هم څوکيدار ته ويلي وو چې موږ دلته يو څو ورځې چکر لپاره راغلي يو ، د نوموړي علي حسن جسد درې ورځې وړاندې د سيند په غاړه د شګو لاندې موندل شوی دی.

زما د خولې دا بيان يې چې واورېدو په کوټه کې يوه حيرت ناکه او حيرانوونکې پېښه رامنځ ته شوه او ټول غلي او حيران پاتې شول. ما وليدل چې يو هلک او يوه انجلۍ هم د دروازې شاته ولاړ وو او زما دا خبرې يې ښه په غور اورېدلې، زما په غالب ګومان چې دوي دواړو د علي حسن جامې پېژندلې هم وې. دا خبره زما څخه هېره شوې وه چې ما دوي ته د هغه ميلمه په اړه هم يادونه ونه کړې وای چې د فتح دين په وينا آخري شپه دنې د علي حسن او ګلالۍ سره په ودانۍ کې تېره کړې وه.

فاطمې چې دا خبرې واورېدې نو شور او غوغا يې پيل کړه، د

دې په دې شور کې داسې رانیوونکی او کېږونکی سوز وچې
تبوله کوته یې خاموشه کړه او په زور زور یې همدا یوه خبره کوله
نه. نه مامورصیب دا هیڅ نه شي کېدای زما لور بې ګناه ده.
هغه د علي حسن پورې څه کار درلود. د خدای لپاره زما لور
راخوشي کړه همدغه علي حسن بد کرداره او رشوتي انسان زما
لور تیریستې کړې او پته یې د دې خایه بولې ده. په دې وخت
کې حفیظ احمد وویل. ته لږ صبر وکړه وربنداري دا خبرې خو
بالکل د منلو وړ نه دي. بیا یې ماته مخ کړاو ویې ویل
مامورصیب! آیا تا سره د دې خبرې کوم ثبوت هم شته؟ او که
هسې دې انجلۍ په زندان کې بندي کړې ده. ما په ډېر جزبې او د
جوش څخه په ډکو الفاظو ورته وویل. د کومې انجلۍ خبره دې
کوله. آیا د هغه انجلۍ چې ستا په وینا د ماما کره لاړه ده؟
په دې خبره حفیظ احمد لږ څه نرم شو. او په نرمه یې وویل
مامورصیب! موږ دا هر څه د خپل عزت او حیا د خوندي ساتلو
لپاره کوو. د عزت او حیا ساتلو لپاره دروغ هم جائز دي. ما
ورته په ځواب کې وویل. حفیظ احمده! مخکې خو دې کم دروغ
ویلي وو. خو دا ځل دې بېخي ډېر غټ دروغ له خولې رابهر
کړل. دا واوره چې عزت او حیا په دروغو سره هېڅکله خوندي
نه شي پاتې کېدلی. بلکه عزت په رښتیا وینا او ښو اعمالو. کړو

په دروا غو به ته تر یوه حده په خپلو رازونو او ورو سره بچ کېږي، په دروا غو به ته تر یوه حده په خپلو رازونو او

بدبو باندې پرده واچوي. مګر دا هم واوره چې د بدنامۍ او بې

شرمۍ څخه نه شې بچ کېدلای، په دروا غو سره نه یوازې انسان

ذلیله کېږي .بلکه شخصیت یې هم خرابېږي، تاسو دا څنګه

زغملا شئ چې د یو بدقسمته انسان د سر پرېکړې تنې اواز او

خبر دې په ټول کلي کې ګډ شي. ټول کلي او خلک دې ترې خبر

شي او ستاسو دا خبره چې تاسو ورته د حیا خوندي ساتل وایئ

همداسې پټه شي؟ دا ستا د بې ناسم فکر او اقدام دی، دا خبره په

ټول کلي کې خوره شوې ده چې ستاسو لور ګلالۍ د علي حسن

سره مینه درلوده او له همغه سره یو ځای لاړه ده په دې خبرو کې

زموږ سره ښه ښه کره شاهدان شته. اوس دا راته ووایه چې هغه

کوم درواغ دي چې تاسو یې محفوظ وساتلئ؟

په دې خبره ټولو سترګې کړو او نور یې هیڅ ونه ویل. او بل دا

چې نور یې څه خواب هم نه درلوده. په دې وخت کې ما کبیر

احمد د ګلالۍ پلار خان ته نږدې راوغوښتو او ورته ومې ویل

کبیر صیب! آیا دا ریښتیا ده چې ستا ځوی امیر احمد لاهور ته

تللی دی؟

هغه په اشاره سر وخوځولو او ویې ویل: هو، په ریښتیا سره زما

ځوی لاهور ته تللی دی. ما ترې بیا وپوښتل او هغه بل ځوی دې

چېرته تللی دی؟

په دې خبره کې بیا حفیظ راودانګل. فرمان احمد کراچۍ تللی دی. ما ورته په امریه ډول وویل حفیظ احمده ته غلی کېنه" تا خپل او لاوړاندې له لاسه ورکړی دی او ماته یقین دی چې ستا دا خبره هم غلطه او دوواغ ده. او بیا مې کبیر ته مخ کړ. کبیر احمده! رښتیا رښتیا ووایه! ستا ځوی چېرته لاړ دی؟ او بل دا چې کله او څه وخت کېږي چې تللی دی؟

سپین ږیري کبیر احمد ځواب راکړ، ماموږصیب ماته پوره معلومات نشته، درې څلور ورځې وړاندې همدلته وه.

حفیظ احمد په دې خبره ښه پوه و چې که علي حسن وژل شوی وي، نو دې معامله او پېښه کې به هرومرو د ده د وراره لاس وي. خوا هغه په تکرار تکرار همدا غوښتل چې د خپل وراره د ساتلو او بچ کېدو لپاره چې هر څه کار او درواغ وي،وئې کاروي. په دې وخت کې یې خپل مشر ورور کبیر احمد ته مخ کړو او په پوښتونکي انداز یې ورته وویل:

ولې تاته معلومات نشته "د فرمان خو ډېرې ورځې کېږي چې کراچۍ ته تللی دی، تا نه هېر شوي دي.

د ده دې چالاکۍ ته مې ډېره غصه راتلله چې په وار وار یې خپل درواغو ته دوام ورکړی و. غوښتل مې چې له مخې سره یې

زندان ته له خان سره ته بوځم. خو د صبر او زغم څخه مې کار واخیستو، په رښتیا هم چې ما ډېرې همداسې پېښې لیدلي چې کم خلک د خان د بچ کولو لپاره رښتیا او حقیقت وینا کوي.خو اخر د همدې خپلو درواغو له امله په خپله په دام کې راګېر شي.

زه پوهېدم چې دوي په دوه پېښو کې ګېر وو، یو د کلالي او بل چې یې د علي حسن د قتل خبره واورېده،خو بیا هم دوي ته داسې دروغ نه وو په کار چې په خپله خان د نوموړې پېښې په هکله سپین ښکاره کړي، بلکه دا هر یو انسان ته په کار ده.

پېښه چې انسان ترې د خلاصېدو لاره نه لري باید په حقیقت کې خپل خان ته او بیا مخالف اړخ ته هم سوچ وکړي، هر یو انسان دا غواړي چې زما دوسیه دې په محکمه کې بریالی شي. خو که ټولنه او نظامي خلک په خپل قانوني حالت خپل کار او دندې ته دوام ورکړي، د انصاف او عدل چینې به په ګوټ ګوټ کې روانې شي،خو نن سبا ډېر کم پیدا کېږي،نو پوښتنه به یې له چا څخه وکړو. د نظامي خلکو څخه؟ او که د عامو خلکو څخه؟

ما بیا ورته وویل: حفیظ احمده! ستا په دې خبرو کې موږ ته څه اندېښنه نه پرېوځي، موږ د هر څيز ښه په غور پلټنه کوو. د ضرورت په اساس به کراچۍ او لاهور ته هم لاړ شو. ته ماته د کراچۍ او لاهور ادرسونه راکړه.

د لږ فکر څخه وروسته فاطمې بي بي د لاهور ادرس راکړو، خو د کراچۍ په ادرس کې لږه چوپ شوه هغې وویل: په کراچۍ کې زموږ څه خپلوان نشته .فرمان احمد به په کوم هوټل کې هلته شپې کوي، ما د دواړو ورونو نومونه ځان سره په کتابچه کې یاداشت کړل او د پلټنې مهمې نکتې مې هم له ځان سره نوټ کړې، زه نور د پاڅېدو په حال کې وم چې لاپاڅېدلی نه وم چې په ټک ټک دروازه راوټکیده، دروازه یې په ډېر زور سره په دیکه راخلاصه کړه، کتل مې د باندې څلور ښځې چې مخکې تېرې د علي حسن مور وه په دروازې راننوتلې او سم دلاسه یې شور او غوغا پیل کړه او په ژړا او فریاد کې یې داسې ویل:

های های خدای دې په تاسو هم همداسې غم رانازل کړي، ستاسو بې شرمې او بې حیا او خونکارې لور زما ځوی له دې دنړۍ څخه ورک کړ، موږ خومو تباه او برباد کړو، دا کچنۍ او بازارۍ به ورته د شپې په توره تیاره کې راوتله، زما ځوی یې هم ځان سره صحرایي کړو، های څه وکړم؟ زما ځوان ځوی خو بېرته نه راځي، پدې وخت کې بیا ژړا زما لور ته راوکتل او ویې ویل:

مامورصیب! همدوی ټول زما د علي حسن قاتلان دي، دوي ټول ونیسه او په دار یې وځړوه دوي لااوس هم هماغسې بې غمه ناست دي دوي،خو خپله لوردي همدې بې حیایۍ او بې شرمۍ

نه ازاده پرېښودې وه، د خپلې لور د او کړو نه ؤ خبره زما ځوی
یې هم د ځان سره صحرایي کړو اخر دا چې اوس یې د تورو
خاورو سره یوځای کړ، زه یې نه پرېږدم نن به په ټول کلي کې دا
شور ګډوم.
د حفیظ دوي کورنۍ چې ناڅاپي دا شور او غوغا واورېده
رو، ګودر ترې غلط شو هر لورې غوغا او شور ګډ شو، په دې
وخت کې حفیظ په تېز غږ ورچغه کړه: ځه! تروري له دې ځای لاړه
شه!! دلته شور مه جوړوه، مور ستا ځوی نه پېژنو او نه موږه وژلی
دی، په دې خبره د علي حسن مور لا نوره هم په جذبه کې راغله او
دواړه لاسونه یې په زوز زور سینې (ټټر) ته ونیول او په ژړا او شور
یې داسې ویل:
هائ نه ځم زه، به اوس په همدې دروازې کې شور او غوغا جوړوم
او ټول کلی به ستا د لور د کارنامو څخه خبروم، هغې بې شرمې
او بې حیا به په مخ سُرخي او پوډر پورې کړل او بیا به د شپې زما
ځوی ته خالي حویلۍ ته راوتله، اخر یې زما ځوی دې حد ته
راورسولو، دا یوازې زما د ځوی د ورکولو لپاره راتلله، الله ج
دې ستاسو د زامنو هم زما د ځوی په شان څټ (سر) غوځ کړي،
داسې فاحشه او مرداره دې الله ج د چا په کور کې نه پیدا کوي.
یو محشر جوړ شو او کلی ټول راوتنګېدو ماشومان، نارینه او

ښځې راټولې شوې او له داوړو څخه داسې خبر شول لکه څرنګه چې په آیینه کې مخ ښکاري، په دې وخت کې ما حفیظ ته مخ کړ، حفیظ احمده! اوس ووایه هغه کوم درواغ دي چې تا سرده یې وفا وکړه او تا سره یې د عزت د بچ کېدو او حیا د خوندي ساتلو مرسته وکړه؟

په دې خبره داسې چوپ شو تا به ویل ساه یې له څخه پښتو ته راغله، څرنګه چې ډېره ګنه ګوڼه جوړه وه، خلک ډېر را شوي وو نورې ضروري خبرې څېړل هم دې وخت کې په کار نه وې نوم ما د حفیظ احمد او کبیر احمد نه اجازه راواخستله او ورته مې وویل چې د اړتیا په اساس به بیا راشم، د باندې چې ووتم هلته هم ډېر خلک راجمعه شوي وو. ډېرو خلکو ماته هم ډېر په ځیر ځیر کتل او ما خپل ځان غلی د دوي په منځ کې رابهر کړ.

پولیس د ساتنې په توګه دواړه د باندې ولاړ وو او د خلکو امنیت یې ساتلو چې زه یې ولیدم نو دواړه نږدې راغلل او د ماموریت پر لور وخوځېدو.

د حفیظ احمد په کور کې هم ډېر وخت تېر شو، ماموریت ته چې ورسېدو، نو پینځه بجې به وې او زه ډېر ستړی شوی هم وم، په ماموریت کې مې یو څو اړین کارونه خلاص کړل او د آرام لپاره کورته لاړم



©saib09

په راتلونکي صبا چې کله بیا په نظامي چارو بوخت شوم او ماموریت ته په رسېدو سره سم مې څارنوالۍ او نورو ماموریتونو ته د خبر په ډول راپور ونه ولیکل. په دې ځل مې په راپور کې دا ډول الفاظ ځایه کړل چې د کلالۍ او د هغې د ورونو په هکله دې باید ټول ماموریتونه خبر اوسي او هم چې سیند ته نږدې خواوشا کوم ماموریتونه موقعیت لري ټولو ته په جدي ډول خبر ورکول کېږي چې ټول نظامي او جنایي ټولنې دې باید د سر پرېکړي جسد په اړه اړین اقدامات او څېړنې ترسره کړي، او هم دې زموږ سره په پلټنه کې په جدي توګه لازمي همکارۍ ته غاړه کېږدي ترڅو موږ خپل مقصد او مرام ته ورسېږو او د سر پرېکړي جسد ټول حقوق په پوره امانت سره خوندي وساتو او څېړنې ته یې دوام ورکړو، دا خبره ماته په فکر کې نه وه راغلې چې کلالۍ اخر چېرته لاړه؟

د خپل محبوب د مرګ څخه وروسته خو پکار وه چې کورته راغلې وی زما په اند چې ځان وژنه یې نه وي کړي او د علي حسن د مرګ څخه وروسته په جذبه کې نه وي راغلي او سیند ته یې نه وي دانګلي؟

همدا سوچ مې په زړه کې راغلو خو اوس یې د حل په لټه کې وم. په هر حال ما د ماهیانو (کبانو) د قرارداد د رئیس سره خبره وکړه

او د ټولو خبرو نه وروسته مې ورته وویل:
رئیس صیب زه غواړم چې په سیند کې جال خور کړم ګونډې د ګلالۍ په هکله څه معلومات وشي، رئیس صیب ځواب راکړو.
مامورصیب ستا خبره خو پر ځای ده خو دې وخت کې جال اچول هم ستونزمن کار دی اوس محال سیند هم په تېزۍ سره روان دی او بل د تېزو او ګړندیو چپو له امله جال هم سم نه شي خورېدلی، دویمه خبره دا ده چې معلومه نه ده که هغې سیند ته دانګلي هم وي الله ج خبر اوبو به کوم ځای ته وړې وي دې کې خو ډېرې ورځې وتلې دي، ما ورته وویل:
رئیس صیب داهم زموږ د پلټنې یوه مهمه څانګه ده موږ ته اوس پېښه ده دا کار به ضرور کوو، که څومره ورځې او وخت ونیسي ته د هرې ورځې د خپل کار بېل او ځانګړي حدونه معلوموه او خپل کار همدا د نن ورځ نه پیل کړه، ستاسو د لامبو زنو او جاله وانانو مزدوري او اجوره درته په ډاډه زړه درکوم هر ځای ته چې د دې جسد اوبو رسولی وي ضرور یې معلومات کېږي دا خبره همداسې نه پاتې کېږي.
د دې ټولو خبرو نه وروسته خپلې شعبې ته واپس راغلم دې پېښې ډېر حیرانه کړی وم چې اخر ولې ګلالۍ خپل کور ته هم نه ده راغلې؟ نو چېرته لاړه؟

جنایي پولیس خان ته راوغوښتو او د نوموړې
لړ وروسته مې جنایي پولیس خان ته را وغوښتو او د نوموړي
چارې په هکله مې ترې وپوښتل. میرباش خانه څنګه د چارې په
هکله څه معلومات وشول؟
جنایي پولیس راته وویل: ښاغلیه د ډېرې سرګردانۍ او پلټنې
څخه وروسته مې د دې چارې دوکان معلوم کړو. ډېر کوښښ او
هلې ځلې مې وکړې او اخر مې دوکان پیدا کړو.
ښاغلیه دا چاره د یو (Hardware Store) برقي سامان الاتو د
دوکان نه اخستل شوې ده د دوکان د مالک نوم فیض دی او په
دوکان یې خپل نوم (Faiz Hardware Store) لیکلی دی (فیض
د برقي سامان الاتو پلورنځی).
پرون هلته په دوکان کې یو هلک ناست وو ما هغه ته نوموړې
چاره وښودله هغه فوراً خپله چاره وپېژندله او دا اقرار یې هم
وکړو چې رښتیا هم دا چاره زمونږ د دوکان څخه اخستل شوې ده
خو زما په شتون کې نه. شاید زما د پلار څخه یې اخیستې وي،
پلار مې د څه ضروري سامان د اخیستلو لپاره لاهور ته تللی دی
شاید چې نن غرمه راشي. هلک هم د چرې په لیدلو ډېر پرېشان
ښکاریدو.
ما دې وخت کې جنایي پولیس ته مخ کړو. دوکان په کوم ځای او
کومې پلازې کې دی؟

@zhunaba

جنايي پوليس ماته د نومړي دوکان سمه ادرس او معلومات راکړ، د دې څخه وروسته مې جنايي پوليس ميرباش خان ته وويل: د چارې دپلټنې اهم او سرخېړونکي معلومات به زه په خپله نن ورځ ترسره کړم شايد تر غرمې پورې به د دوکان مالک فيض هم راشي خو ته نن د پلټنې يوه بله مهمه ځانګه وڅېړه شايد د دې لارې څخه هم موږ ته ډېره معلومات په لاس راشي او سر د نن څخه همدې کار ته دوام ورکړه.

جنايي پوليس په فرمانبرداری وويل:

ماموړصيب: امر وکړه، ما ورته وويل: ته نن د بسونو هډې ته لاړ شه او د بسونو د موټروانانو او کلنډرانو څخه د ګلالۍ او د هغه کس (سړي) په هکله چې د علي حسن سره يې په ودانۍ کې شپه وه پلټنه پيل کړئ او د کوچوانانو او د ټانګو والاو څخه هم پوښتنې پيل کړه، د دې نه پرته د هډې د منشيانو د ترانسپورټ د مديريت او داسې نورو کسانو څخه چې د بسونو د هډې په ځانګه کې کار کوي معلومات واخله. ګوندې څه پايله په لاس راشي.

جنايي پوليسو زما د امر په سره سم خپل ځان برابر کړو او د هډې په طرف روان شو يو دوه پوليس هم ورسره شول. لږ ځند وروسته کبير احمد د ګلالۍ پلار او د هغې تره حفيظ احمد هم



@shnbo09

ماموریت ته راغلل، ماته دا څرګند شوې وه چې دوی دواړه پرون ماښام هم ماموریت ته راغلي وو خو زه په هغې وخت کې د ارام لپاره کورته تللې وم
لمړی دواړو ښه په نرمه لهجه سلام وکړو او بیا یې د رسمي خبرو. څخه وروسته د خبرو پیل په ډول وښیا وکړو:
مامور صیب! تاسو خو ویلي وو چې ستاسو لور په ماموریت کې زموږ سره بندی ده خو اوس ماته ستاسو یو پولیس په ښه څرګنده ډول وویل چې زموږ سره خو په ماموریت کې کومه انجلۍ نشته، ما ورته په ترخه لهجه وویل:
کبیر احمده! ما تاسو ته داسې نه وویلي چې ستا لور زموږ سره په ماموریت کې بندي ده، بلکه دا ډول مې درته ویلي وو چې که ستاسو لور د یو قتل په تور زموږ سره په ماموریت کې بندي وي نو تاسو به کومه لار خپله کړئ؟
دا خو ما یوازې ستا د ورور د ربښتیا معلومولو لپاره کړې وه، دا خبره یې چې واورېده لږ څه خفه او نا امېده هم شو ده دامطلب وو چې، که د ده لور په ماموریت کې بندی هم وي څه نا څه لار به ورته جوړه شي یعنې امېد خو یې شته چې ژوندۍ خو ده، په حیرانۍ سره یې وویل:
مامورصیب! یعنې ستا مطلب دا دی چې ګلالۍ دلته نشته، ما

ورته په هو ځواب ورکړ.
زما همدا مطلب وو کبیر احمده، څنګه چې ستا سره د خپلې لور احساس دی داسې علي حسن هم د یو پلار ځوی وو. ما پرون هم تاسو دواړو ته په ډاګه ویلې وو چې حقیقت هېڅ کله نه شي پټېدلای او بل په حقیقت کې درواغ رامخې ته کول نور هم ډېر زیان او د شرم لامل ګرځي زه په خپله هم ستا لور ته ډېر فکر وړی یم چې آخر هغه څه شوه موږ لا تراوسه بنه په جدي ډول خپل پلټنه روانه ساتلې او تر هغه به دوام ورکوو څو پورې چې د حقیقت بېخ ته نه یو رسېدلي، ما څارنوالۍ او نورو نږدې سیمو ماموریتونو ته د خبرې ډول راپورونه هم استولي دي او نظامي کسان مې هم په بېلابېلو دندو ګمارلي دي دوي هم خپلو څېړنو ته دوام ورکړی، زه د هر یو په بېل بېل خبر اخلم دا خبره هېڅکله نه شي پټېدلی ضرور به د دې حل راوځي، د دې خبرو څخه وروسته چې ما د دواړو ورونو وضعې او حالت ته وکتل ډېر خفه او غمجن معلومېدل، په ژورو فکرونو کې دواړه لاهو شوي وو د دوي څخه هم او لور غلط شوی وو، یو خوا یې ځوانه لور ورکه شوې وه او بل خوا د علي حسن د کورنۍ له اړخه هم وربانديې د قتل تور لګول شوی وو، د یو ژور فکر او سوچ نه وروسته حفیظ احمد د ګلالۍ تره په ساړه اسوېلي سره وویل:



@sulp09

مامورصیب! څه ووایم زما نه خو هم لاره ورکه شوې ده، چې اخر ګلالۍ چېرته لاړه؟ هغه خو باید د علي حسن د مرګ څخه وروسته کور ته راغلې وای؟ آیا تا دا خبره نه وه کړې چې ګلالۍ د علي حسن سره څو ورځې او شپې په ودانۍ کې اوسېدله؟

د دوي د خبرې ځواب په خپله په همدې خبره کې ځای په ځای شوی وو زه د دوي په دې خبره چوپ پاتې شوم، په دې وخت د ګلالۍ پلار کبیر خپل ورور ته وویل:

ما درته نه ویل چې پولیس خلکو ته سم ځواب نه وایي، ما ورته ښه په ځرګند وتکو وویل:

ښاغلیو زموږ کار یوازې د پوښتنو سره دی ځوابونه ستاسو کار دی دې خبره کې موږ شاهدان لرو موږ د یو پلټنې لړۍ سرسري نه ترسره کوو بلکه د هغې بېخ او بنسټ راسپړو او ښه څېړنه یې کوو وروسته له هغې نه یې ښه ثبوت ته رسوو او په خپلو سترګو حال وینو بیا هغه خبره منځ ته کوو، تاسو ته دا هم نه ده معلومه چې مینه او محبت خلک په څه ډول کوي؟

دې وخت کې خفیظ لږ څنګ کوږ کړ:

مامورصیب موږ داسې خلک نه یو موږ تراوسه پورې داسې غلطه مینه نه ده کړې او ښښه غوارم دا پوښتنه نه ده چې تا اوکړه.

ما ورته وويل: حفيظ احمده! مينه او محبت په هر زمان کې جائز
ښودل شوې خو د چوکاټ څخه د باندې نه هغه مينه چې د مور
او پلار مخ توروي او د بدنامۍ لامل کېږي د دې څخه مرګ ښه
دی او بل دا يو حقيقت دی چې د محبت او مينې کونکي چې
ځان ته مئينان وايي په يوه مشوره ژوند هم کوي او په يوه صلاح
مري هم. حفيظ زما د خبرې په مفهوم پوه نه شو. د لږ ځنډ څخه
وروسته يې وويل:

مامورصيب! يعنې ستا دا مطلب دی چې ګلالۍ...

خبره يې په نيمايي کې پرېښوده خو کبير د ګلالۍ پلار بېرته
پوره کړه او ويې ويل: يعنې مامورصيب ستا مطلب دا دی چې
زما لور به د علي حسن يو بدچلن او رشوت خور انسان د مرګ
وروسته هغې هم په خپله ځان د هغه د وژنې په خاطر د مرګ
خولې ته ورکړی وي؟

ما ورته په ځرګنده تکو وويل:

کبيرصيب! دوه لاسونه چې سره يو ځای شي ضرور د ټک اواز
ترې راوځي څرنګه چې ما نن ستا د خولې څخه د علي حسن
مقتول په هکله بد چلن او د رشوت خور الفاظ واورېدل دا رنګه
ما پرون د علي حسن د مور د خولې نه هم فاحشه او بدچلنه
الفاظ اورېدلي وو چې ستاسو د لور په هکله يې ويل. څوک چې

د حقیقت نه سترګې پټوي انسان په خپلو معاملو او کړو وړو کې خپل مقصد او هدف ته نه شي رسېدلی، زما په فکر او چې کومې خبرې پرتې دي هغه داسې دي چې ګلالۍ او علي حسن چې د تېښتې کومه لاره غوره کړې ضرور د دواړو خوښه او رضا وه بیا یې دا کار کړی دی که څه هم دا د دواړو کورنیو د بدنامۍ لامل دی خو مطلب ترېنه دلته د وفا ټکی اخیستل شوی یعنې دې ته وفا ویلی شي.

زه دا وایم چې ګلالۍ او علي حسن به ضرور د خپلې وفا په خاطر په یو بل ځانونه مړه کول ځکه چې وفا تر وروستي کچې پورې په یوه مشوره مرګ او ژوند ته ویلی شي که پتنګ دا چغې وهي چې زه په شمعه ځان قربانوم خو بل اړخ شمعه هم ځان بې وفا نه ثابتوي شمعه هم تر وروستی کچې د فراق اوښکې بیوي څو چې خپل ژوند دلاسه ورکړي.

ما مخکې هم دا فکر کولو چې ګلالۍ ته په کار وو چې د علي حسن د مرګ څخه وروسته کور ته راغلې وای مګر وروسته مې په زړه کې یو بل فکر راپیدا شو چې کیدای شي ګلالۍ د خپلې وفا د پوره کولو په خاطر د علي حسن د مرګ څخه وروسته په جذبه کې نه وي راغلې او سیند ته یې نه وي دانګلي؟

په دې خبره کبیر احمد په زور زور ساه وښکله او ډېر خفه او

غمجن معلومېدو او په ډېر افسوس سره يې سر وخوځولو. ما بيا ورزياته کړه داسې هم کېدای شي علي حسن چې چا وژلی وي هغه به په او غيرت کې راغلی وي ځکه يې علي حسن وژلی دی او دا څرګنده خبره ده چې څوک په جوش او غيرت کې راشي نو په داسې وخت کې د انسان عقل او هوش له منځه ځي او د چا چې عقل له منځه لاړ شي هغه بيا د خپل او پردي په منځ کې توپير نه شي کولای لهذا دا ويره هم شته چې قاتل (وژونکي) چېرته ګلالی هم نه وي وژلې؟

په دې وخت کې کبير احمد خپل ورو حفيظ احمد ته په پرېشانه او خواشينی نظر سره وکتل د دوي زړه ته هم دا راغله چې دا کار رښتيا هم داسې نه وي شوی؟ ما خپلې خبرې روانې وساتلې او ورته ومې ويل:

کبير احمده! زه ستا د لور د لټې په هکله په پوره کوښښ کې بوخت يم او بل دا چې ما په سيند کې د جال خورولو تيارې هم کړې دي د کبانو د قرارداد رئيس د پرون راهيسې خپل کار پيل کړې دی ګورو به چې څه پايله لاس ته راځي، مګر زما په فکر چې د پېښې اصلي (معمه) حقيقت د قاتل د نيولو څخه وروسته حل کېږي، قاتل چې کله نيول شو د پېښې ټول حقيقت د قاتل پورې اړه لري او دا زه باورلرم چې قاتل خو په هيڅ ډول زمونږ د

لاس ځخه بچ نه شي پاتې کېدلای، خو زه دا امېد هم لرم چې د دې نوموړې پېښې په اړه به تاسو هم زما سره ډېره همکاري کوئ، په دې خبره دواړه ورونه غلي شول، زما په فکر چې ما کوم سوچ او رایه ښکاره کړه د دوي هم همداسې فکر وو، کېدای شي قاتل د همدې ګلالۍ خپل ورور وي د ورونو ځخه پرته خو بل څوک داسې کار نه شي کولای او نه بل هېڅوک داسې خطري پېښو ته غاړه ږدي او زما په په غالب ګومان چې ګلالۍ هم په همدې غیرت کې د منځه تللې.

کبیر احمد او حفیظ احمد دواړه ما لیدل چې خواشیني معلومېدل هغه کوم سوچ چې مخکې دوي د خپل ژوند او ناموس د خوندي ساتلو په هکله برابر کړی وو ناکامه ښکارېدو، لهذا زما سره یې خدای په اماني وکړه او غلي دواړه د ماموریت ځخه ووتل.

د دوي د تللو ځخه وروسته ماته د فتح دین او نظیر بي بي هغه خبره رایاده شوه کومه چې دوي دواړو ماته په وړاندې کې کړې وه. زما په ګومان په ورستی شپه چې د علي حسن سره کوم میلمه وو ضرور د ګلالۍ ورور علي احمد وو.

علي حسن یې د چکر په بهانه یا د یوې مشورې په بهانه د شپې په توره تیاره کې د سیند غاړې ته بولی او بل دا چې ښه په

خوشالي او ورين تندي يې دې ځای ته بولي او بيا يې د چاړې په زور د علي حسن څخه ټولې خبرې څرګندې کړې دي، د دې په يې وروسته وژلی دی او سر او لاس او خپې يې ترې غوڅې کړې دي او بيا يې په سيند کې لاهو کړي دي او يا يې چېرته په لېرې پټ ځای کې خخ کړي دي، د هغې څخه وروسته يې سر پرېکړی جسد د شګو لاندې کړی او بېرته ترېنه راغلی دی او ګلالی به يې هم په بل ځای کې وژلې وي، دا يوازې يوه سرسري او بې ثبوته نقشه وه چې زما په زړه کې پرته وه نور په اصل حقيقت يې الله ج پوهېدلو.

د غرمې مهال وو چې ما د (Hardware Store) برقي سامان الاتو پلورنځي ته مخه کړه، دوکان ته چې کله ورسېدم د دوکان مالک چې فيض احمد نومېدو په دوکان کې حاضر وو. زما په فکر ماته جنابې پوليس ويلي وو چې په دوکان کې يو هلک ناست وو هغه راته ويلي وو چې پلار مې لاهور ته د سامان پېرودلو لپاره تللی دی ما چې څنګه په دوکان کې وليدو ګومان مې پرې راغلو چې همدا يې پلار دی او د لاهور څخه راغلی دی.

په دوکان ورننوتم زما دريشي يې چې وليده په ناڅاپه توګه ډېر ووېرېدو او په وېره يې راته رسمي سلام واچاوه څرنګه چې دوکاندار يو عام سړی وو او بل د پوښتنې په هکله يې معلومات

هم نه درلودل نو په آداب سره ماته د څوکۍ نه پاڅېدو او بیا یې ماته یوه څوکۍ رامخې ته کړه او د کېناستو یې راته وویل، زه هم کېناستم یو څو رسمي خبرې مو سره وکړې، د دوکاندار به ضرور دا ګومان وو چې نوموړی پولیس مامور د یو رانیوکې په دول راغلی نو یې زر ماته وویل:

مامورصیب! څه شی مو په کار وو؟

ما ورته په حیرانۍ وویل: نه فیضه زه د یو قتل د پلټنې په اړه راغلی یم او بیا مې ورته د خپل بکس څخه چاړه راوښکله او. ترې ومې پوښتل، آیا دا چاړه ستا د دوکان څخه اخیستل شوې ده؟

فیض دوکاندار چې په وینو سره چاړه ولیده فوراً ډېر سخت وارخطا شو او په وارخطایۍ سره یې وویل:

مامورصیب، آیا؟... آیا؟، دا د انسان وینه ده؟

ما ورته په طنز سره وویل: هو فیض صاحب دا د انسان وینه ده یو پولیس او نظامي سړی د چانه د هغې چاړې په اړه پلټنه او څېړنه نه کوي په کومه چاړه چې غوا مېښه یا اوزه حلاله شوې وي.

په دې خبره یې ډېرې سختې توبې او استغفار وښکل، یا الله! زما دې توبه وي او دواړه لاسونه یې غوږو ته ورنږدې او د غوږو نرمۍ یې په دواړو ګوتو ونیول او ویې ویل:

مامورصیب که ماته معلومه وي چې نوموړې چاړه د یو انسان د وژلو او قتل لپاره کارول کیږي نو ما به هیڅېرې نه وای پلورلې کړې.

فیض احمد او چال چلند نه راته ښه پرهېزګاره او لمونځ کونکی سړی معلوم شو، بیا یې راته په حیرانۍ سره وویل: مامورصیب! په دې چاړه باندې... څوک قتل شوی (وژل شوی دی)؟

ما ده پوښتنې ته په لنډه توګه ځواب ورکړو، او بیا مې ترې وپوښتل، فیض صاحب! ته ماته دا وښایه چې نوموړې چاړه تا په چا باندې پلورلې وه؟ تاته به ضرور د پلورونکي په اړه معلومات وي؟ تقریباً نهه، لس ورځې وړاندې نوموړې چاړه ستا د دوکان څخه اخیستل شوې ده.

په دې خبره باندې فیض په یو ژور سوچ کې ډوب شو، د لږ ساعت څخه وروسته یې په ډاډه زړه وویل:

مامورصیب! زه خو دوکاندار یم ماته هر ډول خلک راځي او رنګ رنګ چاړې او نور سامانونه خرڅوم چاړې خو زما په دوکان کې ډېرې خرڅېږي خو زما په ګومان چې په دې لسو ورځو کې ما دوه چاړې خرڅې کړي دي یوه چاړه خو رحمت علي قصاب اخیستې وه، او بله... په لږ سوچ کې ورښکته شو او بیا یې وویل: هو، اوس راپه یاد شول د قدیر حسین په نوم یو هلک

اخیستې وه

د ده خبرې لا نور هم په سوچ کې کړم، ځکه چې قدیر حسین هم یو نا آشنا نوم وو. په حیرانۍ مې ورته وویل قدیر حسین؟ ما د قدیر حسین نوم د ځان سره نوټ کړو او بیا مې ورته وویل دا د کوم ځای دی او څه کار، ستا ورسره پېژند ګلوي شته؟

ځواب یې راکړ، د هغه کور خو ماته نه دی معلوم او نه ورسره دومره نږدې بلد یم خو زما په فکر چې هغه د حافظ کماني میکر (مستري) سره په دوکان کې کار کوي. ما هم نور څه ونه ویل او د فیض نه مې د نوموړي (کماني میکر) حافظ مستري د دوکان ادرس راواخیستو، وروسته مې ترې اجازه واخیست. ما د کوم جرم وړ کار په دې کې ونه لیدو نو ما هم ورته دا د کېږنه ورکړه او ترې روان شوم

په یوه ټانګه کې کېناستم لږ وروسته ټانګه د ادرس په مطابق د حافظ کماني میکر د دوکان مخې ته ودرېده. یو وړوکی شان دوکان وو. کماني اوسپنې او نور داړتیا وړ څیزونه ګډوډ پراته وو

د ټانګې نه چې کوز شوم نو حافظ او د ده سره چې کوم شاګردان و تر سخت اثر لاندې راغلل او زر یې زما د کېناستو لپاره یوه څوکۍ په ټوټه باندې پاکه کړه او په ډېر ادب سره یې د کېناستو

راته وویل، د ده سره چې کوم شاگردان و هغوی په حیرانۍ سره
خپل خپل کار پرېښود او زما مخې ته حیران اودرېدل وروسته
بیا د استاد په امر بېرته خپل خپل کار ته ستانه شول خو یو
هلک چې د یوې اوسپنې په وېلډنګ بوخت وو ځان یې بالکل
چې کاره کړو او په خپل کار باندې هماغسې بوخت وو خو یوازې
یو نظر یې زما په لور راوکتل او نور په خپل کار بوخت شو.
استاد یو شاگرد ته د چای راوړلو امر وکړو. د هغې نه وروسته
زما سره مخامخ په یوه څوکۍ کېناستو د څو رسمي خبرو څخه
وروسته مې سوچ خپلې اصلي موضوع ته راجلب کړو او د استاد
څخه مې وپوښتل. آیا ستا سره د قدیر حسین په نوم کوم هلک
کار کوي؟
ځواب یې راکړو هو. مامورصیب زما سره کار کوي، او بیا یې د
شا لور ته په لوړ اواز وویل: او قدیره دلته راشه
د استاد حافظ اواز د هماغه هلک په لور وو کوم چې ما یې
مخکې یادونه وکړه چې بالکل چه کاره او ناخبره په خپل کار
بوخت وو. توره عینکې یې اچولې وې او په وېلډنګ کولو
بوخت وو. د استاد اواز یې چې واورېدو فوراً یې د سترګو څخه
عینکې ښکته کړې او زموږ اړخ ته راروان شو
یو غنم رنګه تندرسته او هوښیار ځوان معلومېدو. زما چې پرې

لمړی نظر شو د ده په مخ کې ما کومې د وېرې او وارختيايي
کومې نښې ونه ليدې، په راتلو سره سم يې سلام وکړو او بيا يې
د سلام نه وروسته په ډاډه زړه خپل استاد ته وويل:

استاده! تا ماته څه خبره کوله؟

استاد يې ورته وويل: مامورصيب! زموږ د نږدې سيمي پوليس
مامور دی، ستا څخه د يو څو پوښتنو لپاره راغلی دی، د استاد
خبره يې چې واورېده که څه هم چې په مخ کې يې پوره تغير راغلو
خو بيا يې هم خپله چالاکي ښکاره کړه او ځان يې ناخبره واچولو
او په حيرانۍ سره يې استاد ته وويل:

استاده! له ما څخه؟

ما ورته طنزاً وويل: ولې دومره حيران شوې؟ آيا ستا څخه
پوښتنې کول منع دي؟

ځواب يې راکړ، نه ښاغليه ما خو داسې نه دي ويلي او بيا يې په
تلوار وويل: ستا شان چېرته زموږ د غريبانو سره برابر دی. ما
ورته وويل: محاورې او متلونه خو دې هم زده دي او بيا مې
ورزياته کړه، دا راته ووايه چې د فيض (Hardware Store) د
برقي سامان الاتو پلورنځی دې ليدلی او که نه؟

په دې خبره يې لږ ځان کوږ کړ او خپله اداکاري يې ښکاره کړه په
حيرانتيا يې وويل:

@shuhab09

مامورصیب لیدلی مې ضرور دی خو مګر اوس ماته په یاد نه راځي، ما ورته طنزاً وویل: ستا د یاد د تازه کولو لپاره به یوازې همدومره ووایم چې د هغه په دوکان کې چاړې هم خرڅېږي، زما د خولې چې یې د چاړو خبره واورېده دومره سخته وېره او هیبت ورباندې راغلو چې د خبرو کولو قوت یې هم له منځه لاړو خو بیا هم د ده چې کوم عادت وو خپل ځان یې بېرته بېخي نا خبره واچاوه او ویې ویل:

ښاغلي مامورصیب! زما د چاړو سره څه کار دی؟ ګنې دوکان خو مې لیدلی دی.

د ده په دې انداز سخته قهر راغله خو بیا مې خپل ځان کنټرول کړو او په قهرجنه لهجه مې ترې وپوښتل

تا د هغه د دوکان نه وړاندې کومه چاړه نه وه اخیستې؟

په دې خبره یې د خندا یوه اداکاري ښکاره کړه او ځان یې ناګاره واچولو او ویې ویل:

نه مامورصیب ما خو کومه چاړه نه ده لیدلې او نه مې اخیستې ده زما د چاړې سره څه کار دی؟ زه خو څه قصاب نه یم، په غصه مې ورته وویل: ښه د دې نه دا څرګنده چې ذوکاندار هسې دروغ ویلي دي؟ ماته خو فیض دوکاندار ډېر نېک او پرهېزګاره سړی معلومېږي، راځه چې پوښتنه ترې وکړو، په دې خبره یې بیا بل

ښاغلي مامورصیب! زه خو اوس بیخي وزګار نه یم دا اوس هم په کار بوخت وم ته به راځخه خفه شوې هم وې چې ولې مخکې راپانه څېدو حال دا چې ټول شاګردان ستا سلام ته درغلل خو زه ښبنه غواړم چې پردی کار دی په بیړه یې غواړي دا اوس هم زه ستا سره په تلو کې کومه نیوکه نه لرم خو خبره دا ده چې اوس په ډېر سخت کار بوخت یم او بیا یې په یوه مکرجنه ادا باندې استاد ته وکتل او ورته وېې ویل همداسې ده کنه استاده؟

استاد چې زما په طبیعت او حرکت پوه شوی وو خپل شاګرد قدیر حسین ته یې وویل: څه خیر دی د مامورصیب سره لاړ شه یو دوه درې دقیقې خبره به وي بیا چې راغلې کار به وکړې او بیا یې ماته مخ راواړه او ویې ویل:

مامورصیب قدیر خو ډېر شریف او نیک انسان دی ما خو تراوسه په ده کې څه غلط کار او چلند نه دی لیدلی او نه خو ما ورسره په دې ورځو کې کومه چاره لیدلې ده.

ما ورته وویل: داسې خو زه هم وایم. او بیا مې قدیر حسین ته وویل: زر شه په تلوار سره دې څپلې په خپو کړه.

شاګردان هم راټول شول او ټولو په څرک نظر ماته راکتل خو د وېرې نه یې هېڅ ونه ویل.

قدیر هم په دې وخت کې د ډېر سخت اثر لاندې راګېر شو او په ورو یې خپلې ځپلې په خپو کړې او زما سره رار وان شو. ما همالته نږدې ټانګه دروله وه په هغې کې سواره شو یو څو دقیقې وروسته د (Faiz Hardware Store) فیض د برقي سامان الاتو پلورنځي، ته ورسېدو.

د ټانګې څخه چې کوز شو نو سمدستي د دوکاندار خواته ورغلم هغه پاڅېدو او سلام یې وکړو ما ورته د سلام ځواب ورکولو څخه وروسته فوراً وویل: فیض صاحبه آیا دا هلک ته پېژنې؟

فیض چې څنګه وپېژندلو سمدلاسه یې په اشاره سر وخوځولو او ویې ویل هو مامورصیب همدا قدیر حسین دی همده په خپله څو ورځې مخکې راڅخه همدا چاړه اخیستې وه. قدیر په تلوار د ده په خبره ورودانګل. های حاجي صاحبه د الله څخه وډار شه زه خو بیخي دا ډېر وخت ستا دوکان ته نه یم راغلی مې ستا څخه بالکل چاړه نه ده اخیستې، ماته د چړې څه اړتیا دی او زه په چړې څه کوم؟

فیض محمد ورته وویل: دومره تېزی او چالاکۍ ته اړتیا نشته او بیا یې یوه چاړه د خپل دوکان څخه راواخیسته او د ده مخې ته پې ونیوله او ورته وېې ویل ته ماته لږ وګوره چې تا همدا چاړه زما نه پېنځه شپږ ورځې مخکې نه وه اخیستې؟ او بل ماته د

دروا غو ويلو څه ارتيا ز ه ستاسره کومه پلرنۍ دښمني هم نه لرم
چې په تا باندې هسې د درواغو تور ولګوم بيا يې په چالاکۍ سره
فيض ته وکتل او بيا يې ماته په اشاره وويل دا ګوره
مامورصيب داسې خلک دي اوس دوي ته څه وايې ماته اخر د
چاړې څه ضرورت وو چې ما اخيسته زه خو څه قصاب هم نه يم
فيض محمد ورته په غصه وويل ګوره درواغ لويه ګناه ده. ته
پوهه شه او ستا کار دا خو دوکان دی هرډول څيزونه ورکې
خرڅېږي زه خو د رانيونکې څخه پوښتنه نه کوم چې ته څه کار
کوې او دا فلانکی څيز د څه لپاره اخلې؟
همدا شان چې څوک زما څخه چاړې اخلي زه خو ترينه دا نه
پوښتم چې ته د کوم مقصد لپاره دا چاړه اخلې آيا ته قصاب يې
او که نايي يې ماته چې کوم پېرودونکی راشي زه ورته د هغه د
خوښې په مطابق څيزونه ورکوم، ماته هم د ده په چالاکۍ او
زيرکۍ سخت قهر راغی، د فيض دوکاندار څخه مې رخصت
راواخيستو او قدير حسين مې د متې څخه کلک ونيوو نور يې
څه ويلی هم نه شو او ورته ومې ويل ځه چې خو قدير حسينه پاتي
نورې خبرې به په ماموريت کې کوو.
په لرزېدلي اوازي يې وويل:
مامورصيب، مامورصيب زما خبره خو واوره کنه، زه په قسم



@shubo09

سره وایم چې ما د ده نه چاره نه ده اخیستې. حاجي صاحب
هسې په ما تور لګوي هغه به زما په شکل په بل چا خرڅه کړې
وي او د ذهن څخه به یې وتلې وي ماته د چاړې اخر څه ارتیاه وو
چې ما اخستله. ته خیر دی زما د استاد نه هم پوښتنه وکړه ما
تراوسه څه غلط کار نه دی کړی او نه مې تراوسه د چا سره جنګ
کړی دی. سهار خپل کار ته راځم او ماښام بېرته ځم. ما تراوسه
د استاد نه رخصت هم نه دی اخیستی نو بیا مې په کومه ورځ
چاړه واخیسته. ماموره صیب زه بې ګناه یم استاد.به ډېر خفه وي
ما کار هم نیمایي کې پرېښود. هغه نور شاګردان دومره تجربه
نه لري په کار هم چندان نه پوهېږي خیر دی ما پرېږده په. په تېوله
لاره یې همدا خبرې کولې.
ماموریت ته چې کله ورسېدو ما یو څارندوی په پولیس ته د ده
سپارتنښتنه وکړه او بیا مې ورته په یو جلا ځای کې وویل او ښه
مې په خبره پوه کړو چې اوس د ده سره کومه سختي راوانه خلې.
پولیس زما په خبره راته ښه وکړه او قدیر حسین یې د مې څخه
ونیو او د بند کوټې ته یې بوتلو. د دې څخه وروسته که څه هم
نور ارین کارونه راته پراته وو هغه مې پر ځای پرېښودل او د
ماموریت څخه په خپلو راغلو قدمونو بېرته راووتم. دا ځل مې
ځان سره دا اراده وکړه چې د فرمان احمد او د امیر احمد د نږدې

خپلوانو ملګرو او سره وګورم چې دا هم د پلټنې په اړه يو مهم کار وو.

ترماښامه پورې کلو او کوڅو کې په پلې روان وم تقريباً پنځلس، شل چې د دوی نږدې دوستان او خپلوان هم ورکې وو ورسره وکتل، د دوی څخه هم راته يو څو ګټوري خبرې په لاس راغلې چې مهمې نقطې يې تاسو ته بيانوم:

د انور علي په نوم يو ځوان ماته وويل چې فرمان احمد ما څلور ورځې وړاندې ليدلی وو چې په يو ځای کې ماته مخې ته راغلو، په دغه ورځ فرمان احمد ډېر او قهرجن معلومېدو حتی چې بدن يې داسې تک سور شوی وو چې د خولې څخه يې لمبې ختلې او يو او بل اړخ ته يې په قهر قهر کتل او د لېونو په څېر يې عادتونه کول او د هر سړي نه به يې د علي حسن په هکله پوښتنې کولې او د هغه په او لټه کې ګرځېدو، په دې وخت کې يې ماته هم دا خبره وکړه چې انوره تا خو به علي حسن نه وي ليدلی؟

ما ورته نه، وويل او بيا مې ترېنه وپوښتل فرمانه دا ولې دومره په قهر يې اخر څه چل دی ماته خو يې ووايه؟فرمان راته وويل: چې خير وروسته به بيا پوه شې ما نن خان سره قصد کړی دی چې زه به نن علي حسن ژوندی نه پرېږدم الله ﷻ دې زما په ګوتو او ګېر کې راولي زه به ورسره هغه عمل کوم چې چا ورسره نه وي کړی

په دې وخت کې ما د انور علي څخه وپوښتل، آیا تاته دا معلومات نشته چې په دې وخت کې د فرمان احمد سره کومه وسله یا بل څیز وو او که نه؟

انور راته ځواب کې وویل:

هو ماموور صیب د هغه سره یو فټ غټ خنجر (چاړه) وه د خپلې نبي خیپې تر څنګ یې پټه نیولې وه.

بیا مې ترې وپوښتل، فرمان د خپلې خور ګلالۍ په هکله څه جذبات درلودل؟ آیا هغه په غصه او جذبې کې د خپل خور ګلالۍ یادونه هم کوله او که نه؟

په ځواب کې یې وویل: د خپلې خور یادونه خو یې نه کوله مګر زما چې کوم فکر دی چې د فرمان اصل قهر په خپلې خور و خو په هغې وخت کې ډېر زیات ګډوډ او پرېشانه معلومېدو ماته هم دومره موقعه پیدا نه شوه چې نور زیات ترې وپوښتم خو کېدای شي د علي حسن څخه پرته یې د خپلې خور ګلالۍ د وژلو قصد هم کړی وی.

ما د خپل بکس نه ورته فوراً چاړه راوښکله او ترې ومې پوښتل ایا په هغه ورځ د فرمان احمد سره همدا خنجره (چاړه) وه؟

هغه خنجر (چاړه) سم د لاسه وپېژندله او ویې ویل هو ماموورصیب د فرمان احمد سره همدا چاړه وه.



@sbubooog

د انورعلي د بیان څخه خو دا معلومه شوه چې قاتل خو يې همدا
فرمان احمد دی بل څوک کېدای نه شي ځکه چې همدا د ګلالۍ
نږدې او سکه ورور وو د غیرت او په کارونو کې لمړی ګام د پلار
او ورونو وي زما هماغه خبره ربښتیا شوه، په کومه شپه چې په
ودانۍ کې د علي حسن سره کوم میلمه شتون درلود همدغه
فرمان احمد وو خو اوس دغه معلومات ترلاسه کول وو چې قدیر
حسین په دې پېښه کې د فرمان احمد سره څه لاس درلود یا خو
یوازې د فرمان سره د چارې د اخیستلو تر حده شریک وو، او یا
خو ورسره په ټول جرم کې شریک وو.

ماته دا خبره فکر ته راغله چې قدیر حسین به د فرمان احمد سره
د پېښې په شپه ودانۍ ته تللی وي او د باندې به چېرته پټ ناست
وي یعنې دا کار به یې له دې امله کړی وي چې چېرته د علي
حسن ؤرباندې کوم شک رانه شي او یا د هغه نورو اشخاصو چې
د ودانۍ سره څنګ اوسیدل.

په کوم وخت کې چې علي حسن د فرمان احمد په مشوره د ببرۍ
د لرګي پسې د فتح دین کور ته خوزېدلی قدیر به د فرمان احمد
په اشاره ببرۍ ته پټ او غلی ختلی وي او په ډېر چل او هنر سره
به د سیند پورې خوا غاړې ته رسېدلی وي، د سیند پورې غاړې
ته به بیا دواړه یو ځای شوي وي او علي حسن به یې په شریکه

وژلی وي.

قدیر حسین یوه شپه په کوټه کې بند ساتل شوی وو او یوه شپه یې تاڼه (ماموریت) کې تېره کړه.

په راتلونکي سهار چې کله مې رسمي جامې واغوستې او د ماموریت په لور وغزېدم ماموریت ته چې کله ورسېدم یو څو دفتري کارونه مې جوړ کړل او د هغې نه وروسته مې د یو پولیس په مرسته قدیر حسین خپلې شعبې ته راوغوښتلو.

هغه سمدستي زما د امر سره سم قدیر حسین لاس نیولی زما شعبې ته راوستو ما چې د ده اوضاع ته وکتل نو ما ورکې هیڅ د وېرې احساس پیدا نه کړو په ځانګړتوګه ډېر زړور ځوان معلومېدو ما د هغه په مخ کې بیخي د کومې پرېشانۍ او خفګان نښې ونه لیدې داسې معلومېدو لکه خپل کور کې چې یې بې غمه او ډاډه شپه تېره کړې وي یعنې د ماموریت د چاپېریال سره بیخي اشنا غوندې ښکارېدو.

نوموړي پولیس ماته دا خبره وکړه چې قدیر دوه ځلې مخکې هم د جنګ جګړې له امله په ماموریت کې بند شوی دی د دې له امله ده ته ماموریت څه نا اشنا ځای نه معلومېدو او پولیس دا خبره هم وکړه چې د چاړې په هکله مې ترې ډېر تحقیقونه وکړل خو نوموړی بیخي انکاري دی او بیخي دا خبره نه مني ، او نه



@shumpo9

ورته غاړه ږدي، ما ورته د مخامخ څوکۍ په کېناستو اشاره وکړه او په نرمه رويه مې ورته وويل:

قدير حسينه! دا يو ووړکی دوسيه نه ده په دې چارې باندې هرومرو يو انسان وژل شوی دی.

فيض دوکاندار دا شاهدي ورکوي چې قدير حسين همدا چاړه زما څخه اخيستې ده، په چاړه باندې ته ښه وينې او ګورې چې د مقتول(وژل شوي شخص) وينه هم ليدل کېږي د دې مقصد همدا دی چې تا باندې د قتل(وژلو) ادعا ثابته شوې ده او دوسيه درباندې جوړه شوې ده.

عدالت، قضا او محکمه هم همدا پريکړه کوي، د فيض محمد دوکاندار څخه پرته دوه نور عيني شاهدان هم شته چې ښه معتبره ګواهان دي، د دوي ورکړل شوې ګواهي نه قانون رد کولی شي او نه يې قضا او نه يې ستره محکمه.

ښه ځان سره په دې خبرو غور وکړه او خپل ريښتوني حقيقت ته غاړه کېږده، په عاجزه لهجه يې راته وويل:

مامورصيب! الله ج ګواه دی چې زه بې ګناه يم، او بيا يې دواړه لاسونه سره يوځای کړل او د ښنه په ډول يې ماته رامخې ته کړل، مامورصيب باور وکړه چې زه د دې چاړې په هکله هيڅ معلومات نه لرم.



@shubhog

ما ورته وویل: قدیره په دې قسم خبرو ته نه شي بچ کېدلی دلته په ماموریت کې هر یو مجرم په شروع شروع کې همدا ستا په شان حرکتونه کوي او قسمونه خوري خو دا یاد وګڼه چې ته اوس په خپله د قانون په منګلو کې یو ګېر مجرم یې زه او قانون لمړی د هر مجرم سره په پیل کې ښه نرمه رویه کوو، اوس زه هم ستا سره یوازي په ژبه خبرې کوم او نرمه رویه درسره کوم که ما د لغتو او لښتو په ژبه درسره خبرې لښتو کړې نو ستا ټول هنرونه چالاکي او تېزي به ختمه شي، بیا مې ورزیاته کړه، فرمان احمد ته د کله راهیسې پېژنې؟

ځواب یې راکړو، ښاغلیه کوم فرمان احمد؟

ماته یې په دې حرکت بیا ډېر قهر راوستو، خو پولیس زما په طبیعت او مزاج پوه شو ماته یې مخ کړو:

ماموصیب! زه پوهېږم چې سړی په نرمه رویه لاړې ته نه راځي ته یې یوازي یو ساعت ماته وسپاره ده غوږونه او خوله به په خپله کار پیل کړي، د شپې یې فرمان احمد پېژندلو او اوس انکار کوي.

یو کوږ نظر یې د پولیس خواته وکتل او بیا یې په اشاره راته وویل:

ماموصیب! ما خو څه انکار نه دی کړی چې فرمان نه پېژنم یو

بل فرمان هم شته خو د هغه نوم فرمان علي دی ما ویل که تاسو د هغه په اړه پوښتنه کوئ؟

په دې خبره پولیس زما په اشاره په دواړو لاسونو د قدیر غوږونه ونیول او په زور زور یې ورته ومخول او ورته ویې ویل جاهله، نادانه، ته تر دمه د فرمان احمد او د فرمان علي تر منځ فرق نه شې کولی؟ دا خو څه مېله نه ده ماموریت دی، په وېرېدلې لهجه یې ستر ګې ښکته کړې او ویې ویل، ښاغلیه توپیر کولی شم، ماموصیب فرمان خو زه پېژنم خو مګر د هغه سره زما کومه نږدې ملګرتیا نشته، ما ترې ویوښتل، تا په وروستي ځل فرمان احمد کله لیدلی؟

ځواب یې راکړ، ښاغلیه! هغه کله کله زموږ د دوکان تر څنګ تېرېږي زه یې کله کله وینم د لیرې ځای نه سلام اچوي خو د نږدې زما سره کومه ملګرتیا نه لري.

ما په دې وخت کې جنابې پولیس راوغوښتو او ورته ومې ویل دوه تنه پولیس هم د ځانه سره کړه او د حافظ کماني میکر دوکان ته لاړ شه، د هغه سره چې څومره کاریګران وي د ځان سر یې ماموریت؛ ته راحاضر کړه هغوی ته به ضرور د دې خبرې په اړه معلومات وي چې فرمان احمد په کومه ورځ د ده سره مخ شوی؟ او دا به هم ورته معلومه وي چې قدیر ورسره په دې کار کې

شریک دی او که نه؟
جنايې پوليس زما په اشاره پاڅېدو، قدير چې دا خبره واورېده په تلوار يې زما په دې خبره کې راودانګل مامورصيب! استاد ته مې خير دی په دې اړه څه مه وايه، هغه خفه کېږي زه يې اوس درته په خپله وايم، فرمان ماته ياد دی چې نهه، لس ورځې مخکې زمونږ دوکان ته راغلی وو خو باور وکړه زه ورسره په دې کار کې هېڅ ملګرتيا نه لرم او نه يې ماته د دې پېښې په اړه څه خبرې کړې دي.
د ده سره څنګ ته چې کوم پوليس ولاړ وو د ده په مخ يې يوه څپېړه ورکړه او ورته ويې ويل: ته ودرېږه ستا معز او فکر ته زنګ لګېدلی دی اوس به په خپله ستا ياداشت کار پيل کړي، ما نرېنه پوښتنه وکړه د فرمان احمد سره ستا په هغې ورځې کومې خبرې شوې وې؟
ځواب يې راکړو، مامورصيب کومې خاص خبرې خو مو د يو بل سره نه دي کړي ما ترې د خير او خيرت پوښتنه هم کړې وه خو څه خفه او پرېشانه غوندې معلومېدلو.
ما ورته بيا وويل: تاته به د دې په هکله هم معلومات وي چې د فرمان احمد خور د کور څخه تښتېدلې ده؟
ځواب يې راکړ، هو مامورصيب خو دا خبره ماته بيا څو ورځې



@shu...

وروسته څرګنده شوه، ګني په هغې ورځ خو فرمان د خور په اړه څه ونه ویل.
ما ورته په طنزیه لهجه وویل: که ته د فرمان د خور نه نه وې خبر بیا دې چاړه نه ورکوله کنه؟
سر یې ځمکې ته ټیټ کړ او ویې ویل:
مامورصیب زه بې ګناه یم زما د چاړې سره هېڅ تړاو نشته زه پوه شوم چې قدیر په هېڅ ډول خپل اقرار ته ځان نه تسلیموي لهذا دا ځل مې د ده د اثر لاندې راوستلو لپاره ورته وویل شاید چې قدیره تاته ددې په اړه هم معلومات نه وي چې پرون موږ فرمان احمد نیولی دی هغه اوس زموږ سره تر څېړنې لاندې دی ته پوهېږې چې هغه ستا پرضد څه خبره کړې دی؟
زما د خولې چې یې دا خبره واورېده سم د واره یې په مخ کې د وېرې او پرېشانۍ نښې څرګندې شوې نږدې وو چې په ځمکه راپرېوځي، په وېره یې وویل:
مامورصیب! ماته خو نه ده معلومه چې فرمان څه بیان ورکړی دی؟
ما هم ورته په حیرانوونکې لهجه وویل: نو قدیره اوس غوږ کېږده او ښه په غور یې واوره چې فرمان ستا په ضد څنګه راپور تېر کړی دی، فرمان دا خبره کړې ده چې قدیر زمانه د علي

حسن د وژلو په بدله کې ډېرې پیسې اخیستې دي زما په خبره خو پوه شوې او که نه؟

او بل دا چې هغه ستا پرضد دا بیان هم ورکړی دی چې علي حسن همده په خپله وژلی دی زه ورسره دې کار کې شریک نه یم ما یوازې پیسې ورکړې دي.

مور ته یې په خپل اقرار کې دا هم ویلي دي چې ماته وخت راکړئ زه یې چې په هر څه طریقه وي تاسو ته په ګوتو درکوم ماته د ده ټول حالات معلوم دي.

بیا مې ورزیاته کړه، ګوره قدیره په داز زړېدل دومره آسانه خبره نه ده، چې کله یو سړی ګېر شي نو هغه بیا د خپل ځان د بچولو (ژغورلو) لپاره په خپل پلار باندې هم الزام (تور) لګوي. ښه فکر پرې وکړه که یو ځل دوسیه محکمې ته لاړه نو بیا دې خلاصېدل ستونز من کار دی. فرمان دا هم ویلي دي چې ما سره عیني شاهدان هم شته هغه ټول دا ګواهي ورکوي چې قتل قدیر حسین کړی دی اوس ځان سره ښه ژور فکر وکړه نور درسره وخت هم نه شته، ستا نور خپل کار دی خو که یو ځل دربانډې پرچه کټ شوه بیا دې نه محکمه بچ کولی شي، نه ځارنوالي او نه قانون.

تر یوه درنګ ساعته یې ستر ګې ښکته نیولې وې ګمان کوم چې ژوند ورته ډېر خوړ معلوم شو اوس په یو داسې ځای کې ګېر وو

@shubu09

چې هغه تږوله چالاکي يې دسې عبث شوه، د لږ ځندنه وروسته يې
ستر کې را اوچتې کړې او په زير زير يې راکتل او راته ويې ويل:
مامورصيب هغه د خر بچی دروغ وايي زما د علي حسن سره څه
وخور د ده ورسره تښتېدلې ده او وژلې ما دی دا هسې درواغ
يې په ما تړلي دي، ماته خو دا نه وه معلومه چې داسې معامله ده
کنې د هغه پلار...
ناڅاپه يې خبره بنده کړه، د ده شاته ولاړ پوليس ورته په ملا کې
يوه زوراره لغته ورکړه چې په لوېدلو سره يې سر د دېوال سره
وجنګېدو او په قهر کې پوليس ورته وويل: کنې د هغه پلار ته
دې هم چاره نه راوړله؟
پوليس ماته سمدستي وويل: ښاغليه په همده د قتل په تور
څانوروالی ته ورو پېژنه، همده دا قتل کړی دی زموږ سره
شاهدان هم شته او د قتل اله هم شته.
ما قدير ته بيا مخ واړوو، رښتيا ووايه تا د فرمان نه د علي حسن
د وژلو په بدل کې څومره پيسې اخيستې دي؟
قدير چې په يو ډېر سخت حالت کې ګېر وو په دې خبره يې د اواز
سره ژړا يو ځای کړه او دواړه لاسونه يې جوړه رامخې ته کړل او
ويې ويل:
مامورصيب! اوس دا اقرار کوم چې په رښتيا رښتيا به درته تږوله



@shunabog

کیسه کوم.

زه قسم خورم چې زه د فرمان احمد سره په یو کار او وژنه کې هم شریک نه یم ما هغه ته یوازې چاړه اخیستې وه او د چاړې د اخیستلو یې ماته دوه چنده بیه راکړې وه که ماته د دې په هکله معلومات وای نو ما به ورته هیڅرې چاړه نه وه اخیستې، ده بې مروته انسان خو زما سره ډېره دهوکه وکړه د دې نه پرته نور ما تري یوه پیسه هم نه ده اخیستې او نه ماته د دې په هکله څه معلومات وو چې فرمان چاړه د څه مقصد لپاره اخیستې وه؟

پولیس ورته بیا په غصه او قهرجن لهجه خوله ورخلاصه کړه او د غوږ نه یې ونیولو او ورته یې وویل: او ځنګلي لړ سر را اوچت کړه پیسې چې د چا سره په جیب کې وي هر څه ورباندې اخستی شي، تا د هغه څخه دا پوښتنه نه کوله چې چاړه د کوم مقصد لپاره اخلې؟ او ولې یې پخپله نه اخلې؟ د اخیستو نه یې ډارېږې، تا سره فکر نه وو؟

قدیر حسین په عاجزۍ وویل: ښاغلیه ما ترینه په هماغه وخت پوښتنه هم وکړه خو هغه په هغې وخت کې ډېر ستړی معلومېدلو او ټول بدن یې د خولو نه ډک وو هغه ماته ویلي وو چې دوکاندار فیض زما سره مخکې څه شخړه لري که زه ورشم ما پېژني او نه یې راکوي د دې له امله هغه د چاړې د اخیستلو څخه وېرېدلو.



@shurbog

پولیس چې ورسره ترخنګ ولاړ وو یو بله درنده څپېړه یې پرمخ ورکړه او ورته ویې ویل: د ځان نه دې تورکارغه جوړ کړی دی ټوله خبره ولې لنډه نه کوې؟

ما ترې وپوښتل، تاته فرمان احمد داخبره کوله چې زه د دوکاندار نه وېرېږم او بل تا ویل چې هغه په دې ساعت کې د هر سترې معلومېدو او بدن یې د خولو څخه ډک وو تاته به ضرور په زړه کې شک پیدا شوی وي؟

ځواب یې راکړو، هو مامورصیب شک خو مې پرې لږ راغلی وو خو ما دا ګومان کولو چې د چاسره به یې جنګ وي.

ما ورته وویل: ښه نو تا بیا دې وخت کې دا سوچ نه کولو چې یو فټ اوږده چاړه په جنګ کې وکارول شي نو څه ترې جوړېږي؟

په ژړغوني اواز یې وویل:

مامورصیب زه که دومره هوښیار وای نو اوس به دلته په ماموریت کې ولې ناست وم، خپل کار روزګار به مې کولو او ولې به دلته د سپکو ستغو څپېړو او لغتو سره مخامخ کېدلم.

په هر حال ما قدیر حسین ترڅېړنو لاندې کې بند وساتلو او څو تنه پولیس مې د فرمان احمد په لټه پسې کړل او دا مې هم ورته وویل چې ضرور د ده په لټه کې جندي اقدم وکړئ، کوم شواهد چې ماته په لاس راغلي وو د دې نه دا معلومېده چې فرمان احمد

کراچۍ ته نه و تللی په همدې کلي کې چېرته نږدې خوا او شا پټ شوی وو خو د بدقسمتۍ خبره دا وه چې سره د دومره جدي کوښښونو او څېړنو هم چاته په ګوتو نه ورتلو همدې پوښتنې پرېشانه کړی وم چې اخر ولې؟

د ولې؟ ځواب به تاسو ته په وروسته صفحو کې راشي.

ماچې کوم رئیس ته د جال اچولو په هکله نده ورکړې وه هغه هم د درې څلورو ورځو کوښښ سره سره هم بریالی نه شو، هغه ته نه کوم جسد په لاس ورغلی وو او نه د وژل شوي د اندامونو څه پته ولګېده.

د علي حسن وارثانو مړی (تنه) په خپل حالت خخ کړی وو ما دا امېد لرلو چې فرمان احمد به مونږ په لسو ورځو کې دننه دننه وینو خو څرنګه چې زما فکر وو هغه اندازه غلطه ثابته شوه.

د غټو غټو پولیس مامورانو، او د نږدې سیمو ماموریتونو او څارنوالیو او کومو نوروځانګړو ځایونو چې په نظامي حلقو کې و او د دې څخه پرته د بلې سیمې ماموریتونو چې ما د اطلاع په ډول راپورپانې لېږدولې وې د هغې ټولو له خوا نه هم مونږ ته منفي ځوابونه راغلل شول د دې ټولو کوښښونو او څېړنو څخه پرته مونږ د فرمان احمد د کور نه ګېر چاپېره د څارنې او نیولو لپاره څو څارندویه پولیس هم په دنده ګومارلي وو خو نه د

رمان احمد څه درک وو او نه د ګلالۍ، د دې پیښې د حل لارې
ډېر پرېشانه او خواشینې کړی وم، پېښې په څلورمه، پنځمه ورځ
امیر احمد هم د لاهور څخه راستون شوی وو او نوموړی امیر
احمد مې هم دوه درې ورځې تر څېړنو لاندې په ماموریت کې بند
ساتلی وو مګر د فکر خبره خو دا وه چې د هغه له خوا نه هم منفي
ځوابونه راکړل شوي وو، هغه په خپله په همدې لټه کې وو چې
ګلالۍ او فرمان احمد اخر چېرته لاړل او کوم ځای کې ورک
شول؟
یو ټولی پولیس مې په دې دنده ګومارلی وو چې تاسو د فرمان
احمد په هغو ټولو ممکنه ځایونو او هغو ځایونو چې د ده ورکې
ډیره ناسته پاسته وي ذ دې څخه پرته یې د دوستانو او خپلوانو
په کورونو هم چهاپه (ګېره) واچوئ ګوندې څه پته یې معلومه
شي تر دې حده چې ما په خپلې نګرانۍ کې د نورو ښارونو د
اوسېدونکو او د دوي د دوستانو او خپلوانو په کورونو کې د
څېړنو او پلټنو لپاره پولیس لېږلي وو، د ژورې حیرانتیا خبره دا
وه چې د پېښې نه وروسته فرمان احمد هېڅا په قطعي صورت نه
وو لیدلی او نه ورته د ده د مهم استوګن ځای معلومات شوی
وو.
دې حالت ډېر پرېشانۍ سره مخامخ کړی وم، که هغه ټول کلي



@shuqog

سیمه پرېښودې وي او کومې بلې سیمې ته تللی وي نو دومره خو
به ترې خپل دوستان او یا نږدې خپلوان خبر وي خامخا به یې د
تلو پر مهال کې نږدې دوست ته دا خبره کړې وي په داسې وخت
کې ډېره مجرمانو ته د لاربښوونې او پیسو اړتیا وي او بل د ځای
د اوسېدو اړتیا وي مګر هغه داسې ورک شوی لکه څنګه چې
دود (لوګی) په هوا کې ورک شي.

ما څو ځله دا قصد وکړو چې په امیر احمد د فرمان احمد په ورور
او قدیر حسین بانې کېس دوسیې جوړ کړه او په څارنوالۍ او
محکمه (قضا) کې څارنوالۍ ته ورو پېژنم په دې طریقه به هغه ته
ضرور د خپل ورور امیر احمد د نیولو وېره پیدا شي او په خپله
به ځان څارنوالۍ ته حاضر کړي یعنې د ورور په مینه کې به
مجبور شي نو ځان به خپله د قانون منګولو ته وسپاري خو زړه او
وجدان مې ونه منله او هغه پرېکړه چې د ډېرو کوښښونو او هلو
ځلو څخه اخر نا امېده شوم خو قاتل په ګوتو رانغلو و مې ویل
راشه همدوي دواړه محکمې ته وړاندې کړه، په خپل وجدان کې
مې سربښکته کړو یو خوا راته رحماني فکرونو پرېکړه کوله او بل
خوا شیطاني فکرونو راته دم کړې د همدوي دواړو د په پرېکړې
او مشورې راکولې خو اخر چې هر څه لامل و رحماني سوچ مې
پرې غالب شو، زړه راته اخر همدپرېکړه رامخې ته کړه چې

څنګه؟ او ولې دې یو بې ګناه انسان ستا د لاسه د قتل په تور زنداني شي؟

په هر حال څرنګه چې د داسې ډېرو پېښو سره اشنا شوی وم نو د صبر او حوصلې څخه مې کار واخیستو او خپل عزم متین ته مې دوام ورکړو.

په دې منځ و ترړو هلو ځلو او څېړنو کې تقریباً دوه نیمې میاشتې تېرې شوې او حتی چې زموږ څېړنه هم سره پاتې شوه، نه د علي حسن د کور څخه څه معلومات راکړل او نه د فرمان احمد دوي د کور څخه، هغوی هم په دی مسئله غورونه کړه.

د ورځو نه یوه ورځ وه چې جنابې پولیس یوه ډېره حیرانوونکې او نه منونکې خبره راته وکړه، زما خواته ډېر په خوشالۍ راغلو او راته ویې ویل:

مامورصیب! واوره کنه نن مې یو داسې نوی خبر راوړی چې که خیر وي زموږ د هغو ټولو هلوځلو څېړنو او پلټنو معما او رازداره خبره به نن حل شي کوم چې موږ وریسې په میاشتو میاشتو سرګردان او پرېشان یو خوا بل خوا ګرځېدو.

ما جنابې پولیس په لور په ډېرې خوشالۍ مخ وروا ړوه او ورته په خوشالۍ مې وویل ښه؟ آیا د فرمان څه معلومات شوی دی؟

په حیرانۍ یې ځواب راکړو، نه مامورصیب زما په فکر چې

معامله څه بل ډول ده.

زه نن اتفاقاً د (Bank manager) د بانک د رئیس سره مخامخ شوم هغه ماته وویل چې د علي حسن په نوم یو لیږل شوی د پیسو چیک ماته راغلی دی او یوه نیمه میاشت مخکې تاریخ ورباندې لیکل شوی دی.

د جنایي پولیس دې خبرې ډېر زیات حیرانه کړم په حیرانۍ مې ورته وویل: دا څنګه کېدای شي؟ د یوې نیمې میاشتې مخکې نېټې د پیسو چیک (نغد کرېډټ) پرون څنګه راغلی دی؟

جنایي پولیس دا رنګه ځواب راکړ، ښاغلیه د رئیس دا وینا ده چې دا دومره حیرانوونکې خبره نه ده د چیک په جمعه کولو کې ځنډ او وروسته والی هم راتلی شي خو دلته بله عجیبه او حیرانوونکې خبره دا ده چې دا د پیسو چک (نغد رقم) د علي حسن د مړینې څخه وروسته څنګه جمع شو؟

زما په زړه کې سمدستي دا پوښتنه راپیدا شوه چې رئیس د بانک دا پیسو په کوم څه ډول پاس کړي دي او ولې یې پاس کړي او کوندې ته یې رسولي دي.

زړه مې ونه منله او جنایي پولیس مې له ځانه سره کړو او فوراً بانک ته لاړو، هلته چې ورسېدم د بانک د رئیس شعبې ته ور دننه شو، د بانک رئیس په ډېر ادب سره موږ ته ښه راغلاست



@shubo09

روایه، رئیس چې په عمر پوخ یو سپین ږیری سړی وو چې نوم یې فاروق حسین وو.

جنابې پولیس.د مخکې نه ماتـه دا خبره هم کړې وه چې د پیسو چیک کونده هم اصلي وه او د پاسه ورباندې د علي حسن امضاء هم وه، ځرنګه چې د پیسو چیک د نېټې د تېرېدو ځخه وروسته هم تر درې میاشتو پورې قابل د اعتبار وي یعنې وصول کېدلای شي او د پیسو جمعه کوونکی حق لرلی شي چې تر درې میاشتو پورې یې واخلي، د دې له امله رئیس د بانک هم د نیوکې لاندې نه شو راتلای او نه یې داسې کولای شول چې بند یې کړي، مګر ځرنګه چې رئیس د بانک تـه د علي حسن د مړینې پـه هکلـه معلومات شوی وو، د بانک رئیس د چیک د پاس کولو (وصول) ځخـه مخکـې د علـي حسـن پـلار ریـاض الحسن بانـک تـه راوغوښتو او د چیک پـه اړه یې ورتـه پاس الفاظ ویلي وو خو ریاض الحسن ورته دا خبره کړې وه چې رئیس صاحب دا په اصل کې تېوله غلطي زما ځخه شوې د همدې غلطۍ او سهوې لـه املـه زما ځخـه دا چیک دومره وځنډېدو، د علي حسن پـلار ریـاض الحسن ورته ویلي وو چې رئیس صاحب زما ځوی علي حسن ځـه موده مخکې د یوملګري ځخـه قرض اخیستی وو پـلار یـې دا خبره په ځرګند وکړه چې علي حسن نوموړی د نغدو روپو د خپل

مرکګ څخه یوه اوني وړاندې لیکلې او امضاء کړې وو او ماته یې سپارښتنه کړې وه چې نوموړی چیک زما ملګري ته وسپاره. ما غوښتل چې چیک د هغه ملګري ته بېرته وسپارم مګر د علي حسن د ناڅاپه ورکېدو او وروسته یې بیا د مړینې له امله چې یې په غم او پرېشانیو کې مبتلا کړم هر څه راڅخه هېر شوي وو پایله یې دا شوه چې نوموړی چیک څکه زما سره دوه نیمې میاشتې وځنډېدو چې د کور په یو بکس (صندوق) کې مې خوندي اېښودی وو، څو ورځې مخکې چې د علي حسن ملګري د پیسو یادونه وکړه نو ماته هغه چېک را په زړه شو ما سمدستي د کور نه چېک راوړو او د بانک رئیس ته مې وسپارو کړ.

دا خبرې چې مې واورېدې مطمئن نه شوم په زړه کې راسره نوې اندېښنې پیدا شوې تر ډېر وخته په ژور سوچ کې لاهو شوم، په دې وخت کې مې سمدستی د بانک د رئیس فاروق حسین څخه وپوښتل رئیس صاحب! ته دا راته وښایه چې چېک د چا په نوم دی؟

فاروق حسین چېک د کوندې څخه راوښکلو، ومې لیدل چې د دلدار حسین نوم ورباندې لیکل شوی وو.

دلدار حسین ما د ورایه څخه پېژندو چې د اورګادیو په محکمه کې مامور وو، خو بیا هم د دې وضاحت څخه په آرامه او مطمئن

نه وم ما په همدغه وخت کې خپل يو همکار ولېږلو او د اورګاډيو د محکمې څخه مې د هغه ادرس راوخيستو او يو پوليس مې په ساده جامه کې د هغه په څارنې باندې وګومارلو کړو.

د دې څخه پرته مې يو بل سړی د ملنګ په جامه د بانک د باندې دروازې سره کېنولو او يو بل پوليس مې د رياض الحسن د کور په څارنې وګومارلو.

په دوو ورځو کې هېڅ نتيجه په لاس رانغله، په درېيمه ورځ ماته يو خبر راورسېدو چې دلدار حسين د بانک څخه پيسې راوښکلي دي خو ما چې کوم سوچ وکړو په دې کار کې د نيوکې او کومه پوښتنه نه وو خو وروسته راته دا خبره په ډاګه څرګنده شوه چې په همدې شپه رياض الحسن د علي حسن پلار د دلدار حسين دوي کور ته ورغلی وو او ترڅو ساعتو ورسره ناست وو او بېرته ترې په پټه توګه کورته راغلی وو.

زما په زړه کې چې کومه خبر راپيدا شوه همدې خبري زما په زړه کې ډېر توان او طاقت راپيدا کړ او ما سره يې په پلټنه کې مهم ګام ولوبوو او ډېره مرسته يې راسره وکړه، که څه هم همدا پلټنه زما په زړه کې بيا راژوندۍ شوه خو څو ورځې په ماموريت کې په نورو پېښو او وارداتو بوخت شوم خو دا مسئله مې هم تر نظر

او څېړنې لاندې وه.

پېنځه ورځې پس چې په کور کې وم او شپه وه د شپې دولس بجې وې چې چا دروازه راټک ټک کړه زړه کې مې شک پيدا شو چې دا څوک شو چې د شپې دروازه راډبوي، د خوب نه رابيدار شوم او د باندې راووتم ګورم چې زموږ د اړوند ماموريت د شپې نوکريوال يو څارندويه پوليس دی، په تلوار يې راته وويل:

مامورصيب! زه ساتندويه پوليس رالېږلی يم چې مامورصيب دې سمدستي ځان تيار کړي او زر دې نوموړي ځای ته ځان راورسوي، ما پوليس ته په حيرانۍ وويل: ولې؟ څه خبره ده؟ پوليس راته وويل:

مامورصيب د مقتول (وژل شوي) علي حسن پلار په يو ټرک (لارۍ) کې سامان باروي معلومېږي چې د دې ځايه بل ځای ته کډه وړي، زموږ ټولی مشر او ساتندويه پوليس ټرک ستا تر راتګه تم کړی او د علي حسن پلار ته يې ويلي چې نور سامان په ټرک کې وانه چوي ترڅو چې مامورصيب نه وي راغلی، زه همدغه رالېږلی يم ويل يې چې ماموري صيب دې ډېر په تلوار او بېړه راشي او د ده تر راتګه زه ټرک (لارۍ) ته اجازه نه ورکوم چې د ځايه حرکت وکړي.

ما هم نور څه ونه ویل او دننه کورته لاړم او سمدستي د ربشي پر
تن کړه او د پولیس سره یو ځای تاکلي ځای ته ورسېدم. هلته
چې ورسېدم ګورم چې د علي حسن د کور تر شا ټرک (لاری) ولاړه
ده څه سامان یې په ټرک (لاري) کې خوندي کړی او څه لاندې خور
وور پروت دی

د ریاض الحسن مېرمن، لورګاني او نور خلک د حوالدار
(ساتندویه پولیس) سره په بحث او جګړه وو او په دې خبره یې
ورسره احتجاج (جګړه) کوله چې دوی اخر ولې نه پرېږدي چې لاړ
شي؟ او ولې یې تم کړي دي؟ موږ چې چېرته مو زړه وي تلای شو
د چا څه حق دی چې زموږ لاره (مخه) ونیسي؟

د دې شور او غوغا له امله د نږدې خوا او شا حویلیو کورونو
سړي هم راوتلي وو او ښځې په دروازو کې ولاړې وې، د سپین
ږیري ریاض الحسن چې په توره شپه کې پر ماسترګې ولګېدې
سمدستي پرې وېره او هیبت راغی خولې وروسته چې د لارې
(ټرک) چې اړخ ته روان شو په اشاره یې ماته د بلنې لپاره وویل،
زه هم حیران شوم چې څه وایي نږدې ورغلم چې کله ښه ورنږدې
شوم ورو یې د لاس ځخه کلک ونیولم او یو ګوخه ځای ته یې
بوتلم او په یو مکرجن اواز یې راته وویل:
مامورصیب! موږه عزت داره خلک یو تراوسه زموږ څخه یو

@shumbog

ګاونډي هم نه دي ازار شوي دا شپه وګوره او دا خلک اوګوره چې چارچاپېره د ټرک سره ولاړ دي دا خو ډېر د شرم او سپکاوي خبره ده، د دوي به هم په زړه کې شک وي چې دوي آخر ولې نه پرېږدي چې لاړ شي، ستاسو پولیسو دا شور او ضد پېل کړی دی، د ټرک ډرایور (موټروان) هم دا ټینګار کوي چې زر شئ تلوار کوئ زموږ خو اراده وه چې سهار ته لاړ شو.

په دې وخت کې یې په یو کوږ نظر د ټرک لور ته وکتل چې اوګوري د چا خو پر موږ دواړو نظر نه دی؟ بیا یې پټ پټ جېب ته لاس وردننه کړو او د پیسو یو چیک (بنډل) یې رابهر کړ او بیا یې زما په لاس کې په زور وټومبلو او په عاجزۍ سره یې وویل: مامورصیب! ستا به ډېر احسان من اوسم چې خپلو پولیسو ته ووایې چې موږ نور تنګ نه کړي او زموږ مخه ونه نیسي، ما چې د سپین ږیري ریاض الحسن دا حرکت ولیدو نو حیران پاتې شوم، ما د هغه لاس پرېښودو او ښه په اخلاقي رویه مې ورته وویل: ریاض الحسنه! دا پیسې دې د خپل ځان سره وساته ته د وطن یو آزاد او خپلواک اوسېدونکی یې، هېڅوک نه شي کولای چې تا د تللو نه منعه کړي، خو یوازي موږه دا پوښتنه کوو چې ته اخر چېرته ځې؟ او ولې دا ځای پرېږدې؟ وجه او لامل یې څه دی؟

@shubog

به دې خبره لږ څه چوپ پاتې شو، درنګ ساعت وروسته يې سر
را اوچت کړو او ويې ويل:
مامورصيب! اصل خبره دا ده، دا ځای موږ ځکه پرېږدو چې دا
بوه دولتي حوېلۍ ده او دا حوېلۍ زما ځوی علي حسن ته دولت
د وظيفې په خاطر ورکړې وه اوس چې زما مرحوم ځوی علي
حسن په دې دنيا کې نشته او د دندې څخه هم تيول عمر بې برخې
شو نو اوس موږ حق نه لرو چې دې حوېلۍ کې واوسېږو او بل
دولت هم موږ ته اجازه نه راکوي، ته په خپله مامورصيب دولتي
او نظامي پوليس يې او د قانون په خبرو هم ښه پوهېږې.
ما هم رياض الحسن ته د هو ځواب ورکړ او ورته ومې ويل:
رياض الحسنه! ستا خبرې پر ځای دي رښتيا هم چې د ځوی د
وژلو څخه وروسته ته د حوېلۍ د اوسېدو حق نه لرې او نه دولت
تاته دا حق درکوي، خو زه يوازې دا معلوموم چې ته چېرته او
کوم ځای ته روان يې؟ د لږ ساعت لپاره همداسې خاموش او
چوپ ولاړ وو نه يې غوښتل چې سم ځواب راکړي د ځان سره په
يو ژور چرت کې لاړو ځان ورته يو بل څه محسوس شو، د لږ
ساعت څخه وروسته يې د خولې داسې وينا راوښکله:
مامورصيب! زما اراده ده چې پېنډۍ ښار ته لاړ شم هلته به ځان
ته څه کاروبار جوړ کړم دلته زموږ نوره ګوزاره ګرانه ده نور نه

غوارم چې دلته اووسېږېږم.
د ده خبره مې چې واورېده په ډاډ کېږنه مې ورته ووېل.
رياض الحسنه! ته همدلته په خپل ځای اوسه او زما تر راتګه بل
چېرته لاړ نه شې.
رياض الحسن مې همالته يـواځې پرېښودو او د ټرک خواتـه
ورنږدې شوم او د حوالدار (ساتندويه پوليس) سره مې يو څو پټې
او رازداره خبرې وکړې، د ډرايور په اړخ مې نظر واچاوه، غلی د
ټرک د بانټ سره په درېدلو خپو غمجن او خفه ولاړ وو زړه يې
غوښتل چې لارۍ بېرته تشه او خالي کړي هسې نه چې دا هم د
پوليسو د حلقې لاندې رانه شي هغه هم حيران او غلی ولاړ وو
شايد چې همدا سوچ به يې کولو چې ولې دا ظالمان پوليس دوی
نه پرېږدي، د څو پيسو وړې دي خير دی پيسې دې ورکړي چې
زر لاړ شو د پوليسو چې په کوم ځای او کار کې ګټه نه وي هلته
نه ورځي، دوی چې د شپې دلته راغلي او دا حالت يې پيـل کړی
دی دوی يوازې د خپلې ګټې په غم کې دي، خواته نږدې ورغلم،
چې پرما يې نظر شو سلام يې راتـه واچاوه مـا هم د هغـه د سلام
ځواب ورکړو او پوښتنه مې ترې وکړه:
ډرايور صيب! دا کله دې کوم خواته روانه کړې ده؟
ځـواب يې راکړو، مامورصيب لاهور ته، مـا ورتـه پـه حيرانـی

وویل لاهور ته؟

ځواب یې راکړو هو ښاغلیه، بیا مې ترې په تلوار وپوښتل په لاهور کې کومې سیمې ته؟

ریاض الحسن خو به خامخا تاته ځای او سیمه ښودلې وي، په لنډه یې ځواب راکړو، نه مامورصیب تراوسه یې لامکمل ځای راته نه دی ښودلی، هلته مې چې د سپین ږیري ریاض الحسن د خولې هغه وینا واورېده چې لاپینډي ته ځو او بل خوا چې د ډرایور د خولې څخه مې چې د لاهور نوم واورېدو په زړه کې مې شک راغلو.

په همدې ځای کې د ډرایور سره تر څنګ ولاړ وم چې په اشاره مې ریاض الحسن ځان ته راوغوښتو هغه هم په ډېر داده زړه زما خواته نږدې راغلو چې رانږدې شو نو فوراً مې د مټې څخه ونیولو او ورته ومې ویل: ریاض الحسنه! ښېژه ترک ته، کله چې یې دا خبره واورېده په حیرانی یې وویل:

ماموږ صیب ولې؟

ما ورته وویل: د ولې ځواب به بیا په تانه (ماموریت) کې درکړم ریاض الحسن چې ډېر سخت راګېر شوی وو د خولې لاړې یې وچې شوې او په ورو یې ښې خپه د لارې په پای دان کېښوده او پاس د ترک سیټ ته وختلو ، د ده د ختلو سره سم زه هم سیټ ته

وروختلم، ډرايور چې دا عجبه پېښه وليده حيران شو خو زما په اشاره د اثر لاندې راغلو هېڅ يې ونه ويل: ورته ومې ويل ډرايور صيب ټرک دې چالان کړه او مخ پر ماموريت روان شه.

د کورونو څخه راوتلو ښځو او سړيو چې دا پيښه وليده ډېر حيران شول چې دا څه لامل دی؟

د رياض الحسن د کور ښځو او ماشومانو غوغا جوړه کړه. د ټرک ډرايور هم غمجن او خواشينی معلومېدو ماته يې په حيرانتيا سره وويل:

ښاغلي ماموزصيب! زما خو څه غلطي نه ده ما خو کومه ګناه نه ده کړې موږ په کومه ګناه او جرم سره ماموريت ته بيايې؟

ما ډرايور ته ځواب ورکړو، ته ډاډه اوسه تا زه سهار رخصتوم او بيا مې خوالدار (ساتندويه) پوليس ته وويل د خپلو نورو پوليسو سره په ټرک کې وخېژئ څه وکړو پېښه ده نن مجبوره يو چې شپه همداسې په ويښه صبا کړو.

هغوی هم زما په امر ټول ټرک ته وختل او لاری (ټرک) روان شو، په څو دقيقو کې دننه دننه ماموريت ته ورسېدو.

زه چې د ټرک څخه کوز شوم کتابچه مې راواخيسته د ټرک نمر او د ترانسپورت د کمپنۍ نوم او د ډرايور نوم او ادرس مې د ځان سره نوټ کړل، بيا مې يو پوليس ته وويل چې ته ډرايور د



@shundoog

ځان سره یوې کوټې ته بوځه چې قرار په آرامه خوب وکړي، سهار په ورسره خبرې کېږي، هغه زما په امر ډرایور یو کوټې ته بوتلو. په دې وخت کې سپین ږیری ریاض الحسن چوپ چاپ یو اړخ ته ولاړ وو، ما سمدستي د متې څخه ونیولو او دننه شعبې ته مې د ځان سره بوتلو، د لږ ارام او ناستې لپاره مې فرصت او وخت ورکړ، ډېر خفه او خواشیني معلومېدو په یو ژور ازموینه کې ګېر شوی وو، زما په باور چې دا به یې په ټول عمر او له د پرېشانۍ شپه وه چې په ماموریت کې د شپې دولس نیمې بجې د یوې پېښې سره مخ شوی وو.

د لږ ځنډ څخه وروسته مې مخ ورواړاوه او ورته ومې ویل: ریاض الحسنه! ته یو سپین ږیری سړی یې او زما په ګومان دا به ستا لمړی ځل وي چې ماموریت ته راغلی یې؟ دا یو داسې ځای دی چې د دې سره د چا مخه شوه بیا یې ژوند د ترخو سره تریخ شي، زه غواړم چې ته په ښه خوشالۍ او سوکالۍ بېرته د دې ځایه رخصت شې، خو دا واوره ریاض الحسنه چې که ته په سپینه ږیره د درواغو څخه کار واخلې نو دا هم ستا لپاره او ستونزې پیدا کوي او هم زموږ لپاره یو زیان دی، که ته د دې کړاو څخه ځان ساتل غواړې نو ربښتیا او حقیقت وینا وکړه.

ریاض الحسن په لړزېدلي لهجه ځواب راکړ، مامورصیب! ماته

خو خپله ګناه نه ده معلومه. زه نه پوهېږم چې تا موږ په کومه ګناه کې رابنکېل کړي يو. زما خو دا ټمه هم نه وه چې زه به داسې نا اشنا او زوروونکې پېښې سره مخ کېږم، همدا خبره يې وکړه او په لړزېدو شو نور يې هم څه غوښتل چې ووايي خو وجدان يې په يوه داسې لومه کې ګېر ښکارېدو چې خلاصېدل ترې ستونزمن کار و.

ما ورته وويل: زه يوازې ستا څخه يوه پوښتنه لرم همدا غواړم چې د دې پوښتنې واضح ځواب راکړې، نور چې بيا د قانون کومه لاره وه هماغسې درسره کوم، ستا د کډې وړلو څخه بيا هېڅوک ممانعت نه شي کولای، مګر دا خبره هم واوره که ته زما سره دليل او دليل بازي کوې نو بيا د خپل خفګان او پرېشانۍ سره ښه په ژوره غور وکړه که هر څه دربېښ شول په خپله به يې پړه ستا په غاړه وي.

زما د خولې يې چې دا الفاظ واورېدل نور هم پرېشاني ورباندې غلبه وکړه نږدې وو چې د څوکۍ نه لاندې راوغورځي خو بيا يې هم په زړه د همت څه ساه ژوندۍ وه پوهېدلو چې دا يوه داسې پوښتنه ده چې ځواب يې د ټولې دنيا شرم څه چې د يو خطرناک دام سره هم لاس په ګرېوان کېدل وو، په وېرېدلې لهجه يې وويل: مامورصيب! ته زما څخه کومه پوښتنه لرې؟

ما ورته لږ ساعت همداسې په زیر زیر کتل او زما په انتظار وو چې د خولې به اوس کوم الفاظ راکاږي ورته ومې ویل:
رياض الحسنه ربښتیا ربښتیا ووایه علي حسن چېرته دی؟
زما د خولې چې یې د علي حسن نوم واورېدو ناڅاپه ورباندې یوه داسې سخته وېره او جټکه راغله تا به ویل چې یو زهر لړونکي تور مار ورباندې حمله وکړه او ناڅاپه د څوکۍ څخه په لړزېدلي خپو شاته وخوځېدو څو شاته د دېوال پرې پرده واچوله او بېرته یې راپه مخ کړو.
یوې داسې وېرې کې ښکېل وو تا به ویل چې د ژمي په یخه شپه کې د یو نا اشنا ځای او بیابان سره مېلمه وي او د یخنۍ د بچ کېدو ورسره هېڅ اسباب نه وي، نور ورکې همت ختم شوی وو زړه یې ډېر ځله غوښتل چې اوس د دې پوښتنې ځواب څرنګه او په کوم ډول ورکړم خو بل اړخ ته هغه رازونه چې دده په زړه کې وو هغه اوس او څرګند شوي وو لهذا په ډېر همت یې یوازې دا رنګه وویل: مامور صیب مامور صیب آیا تاته پته ده چې علي حسن....
جمله یې نیمایي کې پرېښوده او غلی شو، خو ما ورته بېرته په طنزیه الفاظو ورپوره کړه، یعنې علي حسن وژل شوی او څلوېښتي یې هم پوره ده.
په دې خبره کې داسې راګېر وو چې څلور اړخو پرې د ځواب لارې

بندې شوې وې خو بيا يې هم څه همت پيدا کړ او ويې ويل مامورصيب! ته د دې خبرې په هکله ولې له ما څخه پوښتنه کوې؟

ما ورته سمدستي وويل: د دې له امله چې مړي د پيسو يو چېک (کريدت) نه شي ليکلې او نه ورباندې امضاء کولی شي.

زه خو هم ډېر حيران او پرېشان وم چې اخر فرمان احمد او ګلالۍ کوم ځای کې ورک شول، زما خو په هيڅ فکر کې هم دا خبره نه وه راګرځېدلې چې کوم کس ما قاتل (وژونکی) ګڼلو او د دوی په لټه کې مې ټولې ماموريتونه ځارنوالۍ، ولسوالۍ او د نورو ځانګړو ځايونو سره په اړيکه کې وو او په لټه کې يې سرګردان پرېشان او حيران ګرځېدلو خو څه مثبت درجې ته ونه رسېدلو خو اوس زمونږ هماغه پټ راز ښکاره او ځرګند شو چې قاتل په خپله مقتول دی او قاتل مقتول دی. ستا زوی واقعي چې په ډېر ذهانت او هوښياری سره دا کار ترسره کړی دی حتی چې په ځان يې د ثبوت او نيوکې هېڅ شی نه دی پرېښودی، د مقتول (وژل شوي) سر، خپې او لاسونه يې غوڅ کړي او بيا يې غايب او چېرته پټ کړي دي او بيا يې چاړه په جامو کې دننه کړې او بيا يې د بخاری په منځ کې په يو ډډه کې اېښودی وه چې دا يوازې د پوليسو او د خپل ځان لپاره يوه دهوکه او فرېب وو او دده هم

ضرور همدا گومان وو چې په دې کار کې به پولیس خامخا دهوکه کېږي او حقیقت هم دا دی چې موږ په رښتیا او حقیقت سره چې دهوکه شوي وو، په رښتیا چې هم پولیس ده ته هسې بابیزه خلک ښکارېدل اوس به په خپله مجبور شي او د خپل جرم اقرار به وکړي او اوس موږه مجبور یو چې د ځان څخه اوس په رښتیا پولیس جوړ کړو حال دا چې ته پوهېږې چې اوس موږ د تحقیق او څېړنې بېخ ته رسېدلي یو.

په دې وخت کې ناڅاپه ماته یو بل فکر راپیدا شو ما، جنابې پولیس ته وویل چې څو پولیس درسره کړه او په ټرک کې کې چې څومره بکسونه (صندقونه) وي تالاشي یې واخلئ، اوس به په همدې صندوقونو کې هغه څه ښکاره شي کوم چې زموږ په ذهن او خیالونو کې هم نه وو او بل دا چې په صندوقونو کې چې څومره لیکونه په لاس درغلل ماته یې راوړه زما باور دی چې علي حسن د خپلې کورنۍ او مور پلار سره د لیکونو په ذریعه اړیکه ټینګه کړې ده او د دې سره سره مې جنابې پولیس ته دا هم ویلي وو چې که د ټرک په صندوقونو کې لیکونه ونه موندل شول، نو د کور په پاتې شوي صندوقونو کې یې هم ولټوئ.

ریاض الحسن چې دا خبره واورېده په درزېدا شو، او ویې ویل: ښاغلیو دا کوم کار چې تاسو کوئ دا درسره نه منم، تاسو د

قانون د حاکمیت نه پرته دا کار نه شي کولای.

ماچې د زاړه ریاض الحسن د خولې څخه دا وینا واورېده نو یو ارخ مې ډېره قهر پرې راغلو او بل ارخ ته مې رحم هم پرې راغلو ځکه چې دا هم د ده یو جوش وو او یو همت وو چې د ده یو ځوان ځوی په دار زړول کېدو همده دا ټول کوښښونه د خپل ځوان ځوی د بچ کېدو لپاره کول.

علي حسن د ده اولاد وو او د اولاد د هر خطر د بچ کېدو لپاره پلار هره ستونزه او خطر په سر اخلي ما دا هم ولیدل چې په سپینه ږیره یې د هر قسم تدبیرونو څخه چې درواغ، دهوکه او هر څه ورکې شامل وو کار اخیستو.

لږ ورسته د ریاض الحسن مېرمن او د زاړه لور ګانې هم ماموریت ته راورسېدلې او په ژړا او منتونو یې زما لمن ته لاس راواچاوه.

مامورصیب! د الله ﷻ لپاره موږ پرېږده، په دې توره شپه کې ستا خواته راغلي یو موږ بې ګناه یو موږ پرېږده چې لاړشو، د دوی رښتیا هم څه قصورنه وو.

هغوی د دې خبرې حقیقت ته نه وې رسېدلې، تقریباً د نیم ساعت څخه وروسته جنابې پولیس چې درې خطونه (لیکونه) ورسره وو زما شعبې ته راغلو، ما چې لیکونه په غور سره وکتل زما هماغه خبره رښتیا شوه.

په تولو ليکونو کې د لاهور ادرسونه ليکل شوي وو او په هر يو ليک کې علي حسن دا خبره ضروري او جبري ليکلې وه چې ليک مو کله ولوستو اورته يې واچوئ.

ما په همدې وخت کې چې د شپې يوه بجه کېدونکې وه د پوليسو څوتنه ځان ته راوغوښتل او تولو ته مې وويل چې په سهار سهار وختي څلور پينځه خاص پوليس د علي حسن د نيولو دپاره لاهور ته لاړشئ او هر څنګه چې وي صباته يې ونيسئ، څرنګه چې په ليکونو کې دده د استوګنې ادرس ليکل شوی وو نو پوليس هم سهار وختي په ډاډه زړه روان شول، زه چې په خپله د تولې شپې د صبا کولو له امله ډېر نارامه او ستړی شوی وم، نو د لږ څه آرام او استراحت لپاره کورته لاړم پوليسو په راتلونکې ورځ د ماښام پر وخت ګلالۍ او علي حسن نيولي وو او بېرته په خوشالۍ ماموريت ته راستانه شوي وو.

د رُخشي حالت ډېر خراب وو سمه نيمه لېونۍ شوې وه، د څارندويه پوليسو تولۍ ماته وويل چې دوي دواړه موږه تقريباً په ۱۱:۳۰ (يوولس نيمو) بجو ونيول او دايې هم ويلي وو چې ګلالۍ د ناڅاپي نيولو نه وروسته هيڅ نه وو خوړلي، څرنګه چې هغه يوه ښځه وه او د ښځې لپاره داسې نوې او نا اشنا پېښې ډېرې خطرناکې وې چې کله به يې اوبه هم څښلې نو قې

(استفراغ) به يې کولو، ما چې د رُخشي خراب حالت وليدو نو دوه پوليس مې ورسره کړل او کورته مې روغه سلامت ولېږله.
وروسته ماته معلومه شوه چې د کور ټولو غړو ورسره خبرې څه چې مګر پروا يې هم ورباندې نه راوړله.
د رخشي کورنۍ رښتيا هم چې په حقه وه ځکه چې ګلالۍ د هغه چا سره اوسېدله چې ددې د ورور قاتل وو او هر څه چې د دوي دواړو کورنيوته رسېدلي وو لامل يې يوازې همدا ګلالۍ وه.
دوه درې ورځې وروسته ماته اطلاع (خبر) راکړل شو چې ګلالۍ د بد ساعت او خواشينۍ له امله د (DPTP) ډي، پي، ټي، پي (حشره وژونکي درمل) مشروب څښلي او خودکشي (ځان وژنه) يې کړې ده، علي حسن هم نور پوه وو چې د خلاصي لاره مې نوره نشته لهذا د خپل جرم اقرار يې وکړ، هغه د فرمان احمد سر، خپې او نور اندامونه په ډېرې هوښيارۍ د پېښې څخه ليرې په يو پټ او جلا ځای کې خخ کړي وو.
علي حسن په خپل اقرار کې دا ويلي وو چې فرمان احمد ودانۍ ته دده د وژلو لپاره راغلی وو نو ځکه ما د خپلې دفاع په خاطر دغه کار وکړ. د نوموړي (وژل شوي) اندامونه موږ د پوليس او غټو مامورانو او حاکمانو په مرسته د علي حسن په هدايت او لارښوونې راوښکل او د اړينو معايناتو څخه وروسته مو قبر بيا



@shuhdbog

وسپړلو. قضا (سترې محکمې) علي حسن ته د دار ځړولو سزا واوروله خو وروسته يې بيا په عمري بند محکوم کړو.

پای

د شپې يوولس نيمې (۱۱:۳۰) بجې

(نجيب الله جالب)

خپله مينه اوومه وياله




@shuhab09